مورچل

اسلامي نظام د ولس هيله
او د قضيې اساسي حل دی!

څوارلسم کال، ۱۱مه، پرلپسې ۱۴۷مه کڼه،
جمادی الأولی ۱۴۴۲هـ ق دسمبر ۲۰۲۰م

کمپاین ضد نظام اسلامی و مسئولیت علماء

- هو! کله چې ټرمپ له سپینې ماڼۍ ووځي؟
- د بمبارونو او وحشت تېزول د څه لپاره ؟
- د حاضر جوابۍ او ځیرکتیا یوه بېلګه...!!

هغه څوک چې (اسلامي ثقافت) ته ترهګري وايي
ايا اسلامي نظام برداشت کولای شي؟

علمي، سياسي
او جهادي مياشتنی خپرونه

څوارلسم کال ۱۱مه، پرلپسې ۱۴۷مه گڼه،
جمادی الأولی ۱۴۴۲هـ ق دیسمبر ۲۰۲۰م

لړليک

گڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	په ملکي تأسیساتو کې سنګرونه د چا دي؟!	۳
۳	کمپاین ضد نظام اسلامی و مسئولیت علماء	۶
۴	هغه څوک چې اسلامي ثقافت ته ترهګري وایي	۹
۵	هو! کله چې ټرمپ له سپینې مانۍ ووځي؟	۱۱
۶	باعزته سوله او که له سولې ډار...!	۱۳
۷	د بمبارونو او وحشت ټیزول د څه لپاره ؟	۱۵
۸	د حاضر خوابی او خیرکتیا یوه بېلګه !!	۱۷
۹	د اسلامي حکومت هیئت، مقاصد او اوضاع	۱۹
۱۰	د ډلو ټپلو پلاوی د ارګ د تخریبي موقف همغږی	۲۳
۱۱	په ۲۰۲۰م کال کې په اسلام مشرف شوي شخصیتونه	۲۸
۱۲	د زابل د سنګرونو مجاهد شهید نورالله حقمل یار	۳۰
۱۳	د شهید ډاکتر محمدجاوید عمر ژوند ته لنډه کتنه	۳۳
۱۴	د اتل شهید محمدشفیع ژوند ته کتنه	۳۵
۱۵	د اسلامي دعوت اخلاقي بنسټونه	۳۷
۱۶	د اسلامي امارت اعلامیې	۴۲
۱۷	د مورچل دارالافتاء	۴۳
۱۸	جنګي جنایتونه (نومبر/دیسمبر)	۴۵
۱۹	د مورچل وړمې	۵۳
۲۰	د ۲۰۲۰م کال د نومبر/دیسمبر میاشتې جهادي خبرونه	۵۶

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی

ایوب صافی | حکمت
معین احمد | حافظ سعید
حسن زوی | موسی فرهاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

اسلامي نظام

د ولس هيله او د قضيې اساسي حل دی!

دا چې دافغانستان مجاهد ولس داځه له پاسه څلور لسيزې کړاوونه زغمي، قرباني ورکوي اوهيڅ ډول سازش ته نه تيارېږي؛ دايې چې په افغانستان کې داسلامي نظام دقيام لپاره نه وي زغملي، نو دځه لپاره به وي ؟ هغه ستر ازمون او ابتلاء چې دامريکايي اشغال په وړاندې دوی ورسره مخ شول شايد چې بل ولس ورسره نه وي مخ شوی، د يوويشتمې پېړۍ د زر اوزور د زورورو په وړاندې د دوی مقاومت به تاريخ په زرينو کرښو ليکي چې زر يې په زغم اوزور يې په شهادتونو اوزندانونو وتمباوه خو له خپل هدفه تېر نه شول .

اوس په پخو تجربو ثابته شوې چې له اسلامي نظامه پرته بل هيڅ مفکوره او تيوري دلته کارنده نه ده که د دنيا په هر څومره سترو طاقتونو يې دتپلو کوشش وشي له دې خاورې او خلکو سره کوشير نه نيسي، يواځې اسلامي نظام دی چې دا ولس ورته له زړه متعهد دی او يواځې همدا نظام يې دامن، هوسايني او پرمختګ ژوند تضمينولای شي .

دافغانستان اسلامي امارت چې د بين الافغاني مذاکراتو لپاره محوري او اساسي نقطه اسلامي نظام ګرځولی دځينو کړيو له خوا په قصدي ډول يا له اسلامه دخپل جهل په بنا د دغه نظام په اړه د ابهام راپورته کولو هڅې کوي او داسلامي شريعت د خورا واضحو نصوصو له شتون سره سره دناسمو انګېرنو لار تعقيبوي .

سره له دې چې داسلامي نظام په اړه دناخبرۍ پروخت سړی بايد داسلامي شريعت څرګندو نصوصو ته مراجعه وکړي اوپه دې اړه ناسمو څرګندونو او اندېښنو ته لار پرېنږدي، خو بياهم دا غږ

پورته کيږي او په اسلامي نظام کې دحقوقو او مساواتو په اړه په خورا جسارت سره انتقاد او نيوکې ترسره کيږي .

اسلام او اسلامي اصول دژوند په ټولو برخو کې هيڅ نوعه ابهام اوخفا نه لري، دلته داسلامي نظام په تعبير کې دابهام هڅه يواځې دهغه چا کوشش دی چې دسولې په وړاندې له هرې بندې څخه يې موخه دخپل قدرت اواقتدار تضمين وي، هلته چې په مذاکراتو کې دمذاکراتو دپيل اساس د دوحې ترون د رامنځته کېدو خبره وه بيانو داسلام اوشريعت الفاظ يادبدل چې اساس دې وګرځول شي، نن بيا هغوی داسلام په اساساتو کې دابهام خبره کوي اوداسلامي نظام په وړاندې وايي چې څه ډول اسلامي نظام ؟

له اسلامي نظام سره حساسيت ښودل په ځرګند ډول د اسلام په وړاندې سنګر نيول او دولس له هيلو اوقربانيو مخ اړول دي، چې په هيڅ ډول د دې خاورې له فطري اوتخليقي جوړښت سره اړخ نه لګوي .

اوس چې دافغانستان مسلمان ولس په کومو ضيقو شرايطو کې ژوند کوي له فقر،جنګ جګړو، ناامنۍ سره مخ او له هر ډول اطمينان څخه بې برخې دي؛ سولې او امن ته د ژوند د ساه تر حده اړتيا لري، چې بايد ژمنتيا ورته وښوول شي او بيا چې دسولې لپاره د مذاکراتو او خبرو اترو يوه فضاء رامنځته شوې په دغسې حساسو شرايطو کې خو د بې موږده او دافغان مسلمان ولس له ديني ارزښتونو سره په ټکر کې پوښتنو او اندېښنو راولاړول له دې پرته چې د سولې په مخ کې خنډ راپورته کول وي بل هيڅ توجيه اوغرض نه شي لرلای .

دافغانستان ځمکنيو واقعيتونو ته په کتو په لنډ ډول ويلای شو چې دافغانستان دمجاهد ولس هيله او په دې هيواد کې دامن او کراری اکسير او يواځينۍ نسخه په افغانستان کې د رښتيني اسلامي نظام قيام دی اوبس .

په ملکي تأسیساتو کې سنګرونه د چا دي...!؟

● موسی فرهاد

لیسه عالی ذکور ولیعصر خاک غریبان

دا شل کاله کیږي چې په وطن کې مو ملکي تلفات ادامه لري، خو کله چې هم داسې پښه رامنځته شي، چې ملکي وګړي او عامه شتمنی پکې زیان وویني، د کابل د رسنیو پر مخ، د بشري حقونو پر کاغذ او د یوناما د دفتر په راپور کې ضرور دا ټکی لیکل کیږي، چې د ملکي تلفاتو ۹۹٪ سلنه د طالبانو لخوا، ۱٪ فیصد د کابل اداري لخوا او ۰٪ صِفر سلنه د ناټو لخوا رامنځته کیږي.

بیا چې پوښتنه وسي، چې دا خو د بمبار په نتیجه کې شوې، پر دې خو د لرې واټن هاوانونه توغول شوي، دا خو په چاپه کې شهیدان شوي، دا خو د سي آی ای د صِفر ۱،۲،۳،۴ ... قطعاتو په ځانګړو عملیاتو کې رامنځته شوي، دا کلینیک، دا مدرسه، دا مسجد، دا پُل او دا کور خو په عملیاتي بمونو الوځول شوي،،، او دا کار خو یو هم د طالبانو نشي کیدلای، نو بیا ولې د دې ټولو حوادثو پره پر طالبانو اچول کیږي؟

دوی په جواب کې وایي، مسئول یې ځکه طالبان دي چې له دې ځایونو نه طالبانو پوځي سنګرونه جوړ کړي وي، حالانکه سنګرونه خو طالبان بیخي لري نه، هغوی خو چریکي بریدونه کوي او پر خپله مخه ځي، ثابت سنګرونه او بیسونه خو یوازې ناټو او د دوی کورنۍ ملاتړي لري او د کابل چارواکي هم همیشه د طالبانو په وړاندې د خپل شکست توجیه په دې ډول کوي، وای طالبان خو ثابت او مالوم ځای نلري، وای له پاکستانه راځي بریدونه کوي او بېرته ځي. وای ځکه یې مور نشو په نښه کولای.

نو ظاهره خبره ده چې د طالب له سنګرونو نه د چارواکو مطلب دا دی چې هغوی (طالبان) د خلکو په کورونو کې ډوډۍ خوري، په مسجد کې لمونځ کوي، په کلینیک کې تداوي کوي، په مدرسه کې زده کړې کوي، پر پله یوه او بله خوا اوړي را اوړي.

د دوی د دې استدلال په آساس، ناټو او کورنۍ ملاتړي یې مجبور دي؛ چې پورتنۍ هدفونه په نښه او پره یې د یوناما او بشري ټولنو په راپورونو کې په طالبانو پسې ثبت کړي.

د کابل رسنی هم همدا پروپاګند په نامسئولانه شکل په شد و مد سره پلښ کوي. وایي د طالبانو د جګړو له امله ملکي تلفات اوښتي او زیات شوي دي. زه دا نه ردوم چې د طالبانو په بریدونو کې به ملکي تلفات بیخي اوښتي نه وي، مګر دومره چې دښمن یې ورپسې ټري، هغه د پورتني فورمول له مخې پسې لیکي.

کنه اصل حقیقت مور او تاسو له دې لاندینۍ ټبلګې څخه ښه معلومولای شو، چې ملکي تأسیسات څوک د سنګر په ډول کاروي؟ د وړمې ورځې خبر دی، طلوع تلویزیون نشر کړی، وای (د بلخ ولایت د دولت آباد ولسوالۍ ملکي روغتون له یوې میاشتې راهیسې د طالبانو د ګواښ له امله تړل شوی دی).

ښه، هغه څنګه ؟!

داسې چې د یاد روغتون مشر غوث الدین انوري وایي، چون د دولت آباد ولسوالۍ په روغتیایي مرکز کې افغان څواکونو پوسته جوړه کړې، له همدې امله طالبانو د دغه کلینک ډاکټرانو ته خبرداری ورکړی، ترڅو چې دولتي څواکونو له روغتونه پوسته لرې کړې نه وي؛ تاسو هم روغتون ته د وظیفې او کار لپاره مه ځئ!

د انوري په وینا، د یاد روغتیایي مرکز ټول ډاکټران د لبندی له لومړۍ نیټې راهیسې خپل کار ته نه دي تللي.

د دولت آباد ولسوالۍ اوسېدونکي اوس خپل ناروغان د مزارشریف حوزوي روغتون ته په ډېر لوړ قیمت او ډېرو مشکلاتو سره رارسوي، دوی وایي چې د ولسوالۍ د روغتون په تړل کېدو سره له ګڼو ستونزو سره مخ دي.

د طلوع د خبریال په وینا، ۴۵ کلن غلام سخي چې د دولت آباد اوسیدونکی دی؛ لوی پټو یې پرځان را تاو کړی او د یخنۍ له کبله رېږدي؛ هغه وایي: «مور ډېر په تکلیف یو، یو موټر په درې تر څلور زرو کرایه نیسو».

په دې لړ کې د بلخ د امنیه قوماندانۍ ویاند، عادل شاه وایي: «د روغتون سره جوخت د دفاعي څواکونو یوه پوسته شته، البته د عملیاتو لپاره جوړه

شوې، چې عملیات ختم شي، پوسته به له هغه ځایه نقل شي.

د راپورونو له مخې، شاوخوا پنځه میاشتې وړاندې طالبانو د مزار ولایت په بلخ ولسوالی کې د ځانګړو ځواکونو یو مرکز د موټربم په وسیله له منځه یووړ او ګڼ شمېر پکښې ووژل شول؛ له هغه وروسته ځانګړي ځواکونه دغلته نږدې د ځارویو کلینیک په یوه تعمیر کې چې د ملکي روغتون سره جوخت و؛ ورنقل او هلته ځای پرځای شول.

د طالبانو عکس العمل:

سره له دې چې یادو ځواکونو دا پوسته د طالبانو پرضد د عملیاتو لپاره جوړه کړې، خو طالبانو دا پنځه میاشتې له دې امله برید نه دی ورباندې کړی چې دوی په ملکي روغتون کې مېشت دي، په برید سره به ملکي خلکو ته زیان ورسیږي.

له همدې امله طالبانو تر دې حده زیار ایستلی، چې ډاکټرانو ته یې خبرداری ورکړی چې که عسکر له روغتونه نه وځي؛ نو تاسو تر یو وخته پورې کار بند کړئ.

اوس که په دې کلینیک کې طالبان میشت وای، نو د کابل ګوډاګي رژیم به وختي لا هغه بمبار کړی وای او پرې به یې هم پر طالبانو اچولې وه، د رژیم اړوند خواخوږو رسنیو به لویه ډرامه تري جوړه کړې وه؛ چې ګویا کلینیک د طالبانو له وجې بمبار شوی، ځکه چې په وینا یې طالبانو پکې پوسته جوړه کړې وه.

لکه همدا اوس چې د عسکرو د پوستې له وجې روغتون بند دی، بیا هم طلوع رسنۍ لیکلي: یاد روغتون د طالبانو له لاسه ټرل شوی.

سره له دې چې طالبانو د ملکي خلکو د حفاظت په خاطر تر اوسه برید نه دی باندې کړی، بیا هم د کابل رسنۍ پرته له دې چې د ملامتۍ ګوته، ملامت اړخ ته ونیسي؛ په ډندو سترګو پرې پر طالبانو اچوي.

د بلخ د روغتون پېښه یوه نمونه ده، بلکې په سلګونو داسې مثالونه شته، چې دولتي عسکر له ملکي تأسیساتو د سنګرونو کار اخلي. د کندهار په ژړې کې، د روزګان په دهراود کې، د زابل شاه جوی په بازرګان کې، د لوګر په برکي برک کې، د غزني په دهیک کې، د بلخ په دولت آباد او یو شمېر نورو ځایونو کې په ښکاره ډول دولتي عسکرو په ښوونځیو او یا کلینیکونو کې پوځي سنګرونه نیولي دي.

خو د دې باوجود، تور پر مجاهدینو ټرل کیږي؛ چې هغوی له ملکي تأسیساتو جنګي استفاده کوي. په همدې نامه یې هر ځای بمباروي. د کابل رسنۍ، یوناما او د بشري حقونو دفترونه د ګوډاګي رژیم دغه ناروا کړنې او ناروا پروپاګند باندې هېڅ اعتراض نه کوي، بلکې د ملامتي ګوته یې همېشه مجاهدینو ته نیولې وي.

آیا دا کوم عدلي، اخلاقي او بشري انصاف بلل کیدای شي ؟؟!!

پای ....!!

حبیبی سمنگانی

کمپاین ضد نظام اسلامی و مسئولیت علماء

فاجعه تنها این نیست که نمونه‌ی بالفعل نظام اسلامی در جهان معاصر ناپیدا است، بلکه فاجعه بزرگ‌تر اینست که اصلا بحث اهمیت و چگونگی نظام اسلامی و سازگاری آن با جهان امروزی، در دایره‌های علمی و پژوهشی جامعه پریشان افغانی، کمرنگ شده‌است.

اکنون که بیست سال از تجربه‌ی نظام دموکراتیک یا جمهوریِ غرب در کشور ما گذشته و حقیقت آن با همه نا به‌سامانی‌ها و ویران‌گری‌هایش برملا گردیده‌است، اما قشر دینی و مذهبی جامعه ما هنوز آغاز بحث‌های سنجیده‌ی علمی برای چگونگی نظام آینده‌ی اسلامی افغانستان را لازم ندیده‌اند. بلی، امارت اسلامی یا طالبان با شعار و هدف حاکمیت نظام اسلامی، مبارزه‌ی خود در برابر اشغال و نظام دیکته‌شده‌ی غربی را به این مرحله رسانیده‌اند، اما این مسئولیت عموم اهل علم کشور است که در برابر جنگ تبلیغاتی و رسانه‌یی دموکراتان و سیکولاران بایستند و با راه‌اندازی بحث‌های مفید و ارزشمند، نه تنها بر چالش‌ها و آزمون‌های سر راه نظام اسلامی بیاندیشند، بلکه جامعه مرعوب‌شده‌ی خود را برای استقبال از نظامِ ممثلِ آرمان‌های دیرینه ملت آماده بسازند و به نقدها و ایرادهای مخالفان و دین‌ستیزان، جواب‌های کافی‌وشافی ارائه نمایند. بلی، این مسئولیت بزرگ و سترگ عالمان و دانشوران مسلمان ماست.

فرق جامعه افغانی با بسیاری جامعه‌های اسلامی اینست که کشور و ملت ما صلاحیت بیش‌تر پذیرفتاری نظام واقعی اسلامی را دارند، اما بالعکس آن‌چنانی‌که علمای دیگر بلاد اسلامی در طول یک قرن اخیر در باب

تشـــریح و توضـــیح نظـــام اســـلامی خـــدمات ارزنـــده‌ی علمـــی انجـــام داده‌انـــد و بـــه پرسش‌های این زمان پاسخ گفته‌اند، علمای ما به این عرصه توجه چندانی نکرده‌اند. حال اینست که قربانی‌ها و فداکاری‌های جانی علما و دانشوران افغانستان در راستای حاکمیت شریعت والای اسلامی به‌خصوص درین چهار دهه‌ی اخیر، در جهان معاصر بی‌نظیر است.

از همین‌ست که امروز با اینکه نظام دمـوکرات غربـی در افغانسـتان در بـاتلاق پراکندگی و از هم گسیختگی قرار دارد، اما بسیاری مردم مسلمان کشور در نتیجه‌ی اوج تبلیغات رسانه‌های سیکولار و دین‌بیزار، در باره‌ی قابل عمل بودنِ نظام واقعی اسلامی، هنوز دچار تردد هستند.

بلی، افغان‌ها به‌خوبی پی برده‌اند که نظام وارداتی و بی‌کیفیت جمهوری، نه تنها دردهای روزافزون پیکر خسته‌ی ما را مداوا نمی‌کند، بلکه نیش‌های هولناک آن روح‌وتن مـا را ضـعیف‌تر و نحیـف‌تر می‌سـازد، امـا رسانه‌های سیکولار برای آن‌ها چنان وانمود می‌سازند گویا به‌جز تن دادن به این نظام سـیه‌کار دیگـر راه و چـاره‌ای ندارنـد. ایـن کمپاین سیکولاران آنگاه مؤثرتر تمام می‌شود که علمای دین، به‌جای پاسخ‌گویی به آنان، خود را به این و آن مشغول می‌دارند.

وضعیت را اینجا قیاس کنید که، بنده چنـد روز پـیش چیـزی بـه حمایـت از نظـام تئوکراسی نوشتم، مدعایم این بود کـه تعبیـر نظام تئوکراتیک به حاکمیت ملاها یا پیشوایان مـذهبی درسـت نیسـت. زیـرا تئوکراسـی در حقیقت عبارت از حاکمیت خداوندی است، نـه ملاها. مـن آنگـاه حیـرت‌زده شـدم کـه یکـی از بـرادران مبـارز مـا در عرصـه علم‌وقلـم، نظـر دادنـد کـه تئوکراسـی و نظـام اسـلامی از هـم متفاوت‌انـد. زیـرا در تئوکراسـی یـک طبقـه مخصـوص روحـانیون بـر مـردم حکومـت می‌کنند، اما در نظام اسلامی لازم نیست کـه حـاکم شـخص روحـانی باشـد. او از یـک بـودن تئوکراسی و نظام اسلامی انکار داشت.

متوجه شوید که چطور یـک بـرادر مبـارز مـا از تبلیغـات رسـانه‌های سـیکولار متـاثر می‌شود.

سیکولاران نخسـت تعریـف تئوکراسـی را بـا اسـتفاده از بعضـی رویـدادهای تـاریخی در جامعه غربـی، کـه در قـرون گذشـته رخ داده، مسخ می‌کنند. آن ها چنان وانمـود مـی سـازند گویـا در تئوکراسـی ملاهـا و یـا پیشـوایان مذهبی بنام خدا بر مردم حاکمیت می‌کنند و یـا اینکـه تئوکراسـی حاکمیـت خداونـدی نـه، بلکـه حاکمیـت و اسـتبدادگری پیشـوایان مذهبی اسـت. سـپس آن هـا نظـام اسـلامی را هـم بـه همـین دلیـل رد مـی کننـد کـه آن یکنوعی از تئوکراسی اسـت. حـال اینسـت کـه بلی نظام اسلامی تئوکراسـی اسـت، امـا معنـای

تئوکراسی و نظام اسلامی آنچنان نیست که شما بیان می کنید.

باید دانست که تئو (Theo) در زبان یونانی خدا را گفته می شود و کراسی (Cracy) حاکمیت را، پس تئوکراسی (Theocracy) عبارت است از حاکمیت خدا. اما سیکولاران بسیار زیرکانه اصطلاح تئوکراسی را به دشنام و طعنه تبدیل کرده اند. از همین جاست که بسیاری از اهل علم و قلم ما هم از کاربرد این اصطلاح خودداری و حتی انکار می‌کنند و می‌گویند ما طرفدار تئوکراسی نیستیم.

شیخ الاسلام مفتی محمد تقی عثمانی در کتابش «اسلام اور جدید سیاسی نظریات» درین مورد می نویسد: «بعضی‌ها بدون اینکه محاسن و معایب تئوکراسی را بدانند، به‌گونه‌ی یک شعار می‌گویند که در اسلام تئوکراسی نیست. حقیقت اینست که قرآن کریم فرموده‌است که «ان الحکم الا لله»"، حالا فکر کنید که هرگاه گفته شود که در اسلام تئوکراسی نیست، معنایش اینست که العیاذبالله در اسلام حاکمیت خدا نیست. این چقدر خطرناک است».

این محض یک نمونه‌ای بود که چطور مسلمانان به‌خصوص نسل امروزی ما، با تحریف واقعیت‌ها در مغالطه انداخته می‌شوند. از مثال فوق می دانیم که نخست تعریف تئوکراسی تحریف می‌شود و سپس نظام اسلامی هم به اساس همان معنای تحریف شده، تئوکراسی خوانده می‌شود. اینجاست که نه تنها مخالفین اسلام بر نظام اسلامی ایراد می‌گیرند که زمینه‌ی حاکمیت ملاها را فراهم می‌کند، بلکه حامیان نظام اسلامی هم از تئوکراسی خواندن آن انکار می‌کنند، که گویا تئوکراسی واقعا عبارت از حاکمیت ملاها است.

مفتی تقی عثمانی صاحب ضمن بیان فرق بین اسلام و مسیحیت، می‌نویسد: «در اسلام، حق حاکمیت به یک طائفه یا گروه خاص داده‌نشده، که بنام خدا قدرت را به‌دست بگیرد و هرچه بخواهد بکند».

اینجا باید توضیح داد که در نظام واقعی اسلامی اگر یک ملا حاکم می‌شود وی مطلق‌العنان نمی‌باشد، بلکه امور دولت اسلامی را طبق رهنمودهای خداوند متعال و در چوکات شریعت به‌پیش می‌برد. وی در حقیقت حیثیت نائب را دارد و از مواخذه و ایراد مستثنی نیست و هر کار را با مشوره انجام می دهد.

به هر کیف، موضوع این مقاله تعریف و تشریح نظام اسلامی نبود، بلکه فراخواندن علما و دانشمندان مسلمان برای مبارزه‌ی منظم و همه جانبه با کمپاین تبلیغاتی سیکولاران در برابر نظام اسلامی، و همچنان تنویر افکار نسل امروزیِ جامعه‌ی پراکنده‌ی ما بود. این مسئولیت بزرگ را نباید نادیده گرفت.

هغه څوک چې (اسلامي ثقافت) ته ترهګري وايي؛

ایا اسلامي نظام برداشت کولای شي؟

خبیر احمد م

دوحي ته دبين الافغاني خبرو دپلاوي څو تنو غړو له رسنيو سره په خبرو کې ويلي: طالبان لدوئ سره په خبرو او ناستو کې داسلامي نظام له تعريف څخه کم راغلي، يا دوئ ته يې داسې يوسه په لاس ندي ورکړي چې هغه داسلامي نظام جزيات پکې درج اوشامل وي

دهمدغه پلاوي يوتن غړی او دپخوانی تلوالي خبرلوڅ (حفيظ منصور) طلوع نيوز ته ويلي: داخبره ناسمه ده چې دطالبانو په مفکوره او تګلاره کې کوم تغير راغلی؛ دده په اند طالبان، دجمهوريت، ديمکراسی، دښځو دحقوقو، هنر، موسيقی او دبيان دازادی په باب اوس هم په خپل دريځ ولاړ دي او له ۲۰ کلونو وړاندې سوچ او نظر لري!!

دحفيظ منصور په څير دکابل پلاوي ښځينه غړې فوزيه کوفی هم ورته خبري کړي.

ترکومه ځايه چې داسلامي امارت او طالبانو غبرګون او توضيحات جوتوي ترې بريښي چې څومره ناستې او مجلسونه له کابل څخه دوحي ته ورغلي پلاوي سره ترسره شوي مباحث او دمجلس اجندا يې هيڅکله ترهغې مرحلې نده رسيدلي چې داسلامي نظام په تشريحي او تفصيلي مواردو خبري او تبادله دنظر شوي وي او خبره آن داسلامي نظام جزياتو ته ولاړه شي، بلکې داڅومياشتې ناستې ولاړې په دې څرخيدي چې څنګه وکولای شي دخبرو او بحث په طرزالعمل يوې موافقې ته ورسيږو، هماغه وو په دانيږو اونيو کې په ۲۱ مادئيز طرزالعمل دواړه لوري اتفاق ته ورسيدل

نو حفيظ منصور، فوزيه کوفی او يا نور څوک چې دغه رنګه تورونه لګوي او قضاوتونه کوي نه پوهيږو چې دو ئ له کومه ځايه دا ټکي ځانته معلوم کړل چې طالبان له کومو مواردو سره جوړ او ناجوړ دي فکر کوو چې حفيظ منصور اويارانو به هسې دعامه ذهنيت داخلال ديوې هڅې په توګه دغه غرضي تبليغ ته متي بډوهلي وي ترڅو په لوی لاس يو لړ داسې مسائل او لانجي تبليغ اورامخي

ته کړي ترڅو اصلي موضوع چې دسولي، اعتماد او ديوه ريښتيني اسلامي نظام ډانچه جوړول دي دهغو په مخ کې خنډونه ايجاد کړي اوضمنا خپل يولړ خارجي باداران چې ډيرکلونه يې دلته داسلامي فرهنګ، افغاني غرور او اسلامي شعائرو په وړاندې په زرهاوو ميلونه ډالر لګولي اودهمدغه حفيظ منصور خيلو په شکل او مرسته يې ډير کارکړی ورته ووايی که دمذاکراتو په نتيجه کې د اسلامي نظام دجوړښت او حاکميت خبره راشي، سوله او امن راشي نو ممکن دهغوغرضي کړيو او بهرنيو مافياوو اسلام او افغانيت ضد زيربناوو او بنسټونو ته صدمي ورسيږي او يا له منځه ولاړ شي

هو! دايوه خبره لکه لمر روښانه او برالا ده چې دحفيظ منصور او ياهغه ته ورته خلکو په ذهن اوسوچ کې چې کوم ګند او پليدي پرته ده که هغه داسلامي شعائرو، اسلامي ثقافت او فرهنګ په اړه يې لري او يا دافغانستان دملي وحدت او ورونو مليتونو په هکله تمرکز لري اووخت په وخت يې ورباندي شخوند وهلی؛ نو حفيظ منصور او لارويان دې واوري چې اسلامي امارت او طالبان په ريښتيا هم له دغسې اسلام ضد نظريو سره چې حتی په پوهنتونو کې دوئ داسلامي ثقافت درس اوپوهنځی نشي تحمل کولای او هغه دترهګری ځالي بولي، مدارس او نور ديني مراکز خو لا په ځای پريږده اويا دهندوستان له لوري هندي برېنډ، بت پرسته سريالونه او ډرامې زمونږ خوږې او باعفته ژبې (دری) ته ترجمه کول ددري ژبې ترقي او يايې هنر بولي؛ دا جفاوي او خيانتونه نه داچې طالبان او اسلامي امارت يې له خپل افغاني اصيل فرهنګ او ديني شعائرو سره ظلم او ستم بولي، دافغانستان دټولو قومونو او مليتونو له ارزښتونو او مسلماني ټولني په حق کې هم تاريخي جفا اوجنايت دی مخه نيول يې نه داچې دطالبانو مکلفيت جوړيږي، بلکې هر افغان خپله فريضه ګڼي چې ددغو ديني اوملي زياتيو اوستمونو په وړاندې ودريږي او کلکه مقابله يې وکړي

نو حفيظ منصور او يا يې همنوايان که دغه ډول جنايتونه اوپردی پالني زمونږ مسلماني جامعي ته رانويستل غواړي او فکر کوي چې خپله پليده ګروه او پردی پاله اويا په طالبانو ومنې دابه يې هسې يو پوچ خيال او شوم هوس وي

طالبان ددې ولس دريښتينو ديني او ملي اقداردو ممثلين دي کومې قربانی او فداکاری يې چې له تيرو دولسيزو راهيسې نذرانه کړې هغه دهمدغو پاکو هيلو دترلاسه کولو لپاره وي او له حفيظ منصور خيلو پرته چې شمير يې ټول څو سوه تنه کيږي، نور ۴۰ ميلوني ولس يې په قاطع اکثريت ددې خبري او داعيي ملاتړ کوي او غواړي چې له برخليک او سرنوشت يې داشنه غله، دارماران، مفسدين او معامله ګر نور ليري ورک او ځای يې صالحان او يوه سوچه اسلامي نظام ونيسي.

هو! کله چې ټرمپ له سپینې مانۍ ووځي؟

ارمان

د هغه د واک ورځې په شمار پاته دي، هغه د عبرت یو مثال ګرځیدونکی دی، لیکن نن هم هغه ته پخپل هیواد کې د داسې ډیرو خلکو ملاتړ حاصل دی، ځوک چې خپلو سیاسي مخالفینوته په کنځلو او بدو ردو ویلو فخر محسوسوي، زکه هغوی ته خپل مشر دروغ ویل او نفرت ښودلی دی او دروغ څه پښې نلري او د نفرت اور یواځې نور نه سوزي بلکې پخپله بلونکي ځان هم سیزلی شي.

هو! دامریکا ولسمشر ټرمپ د سپینې مانۍ څخه په رسوایي اوشرمنده ګی سره په وتودی، هغه چې د خپل واک په موده کې امریکا څومره ر سوا کړه هغومره به د امریکا لوی نه لوی دښمن هم نه وي کړې دواک په وروستیو ورځو کې یې د ولسمشرۍ انتخاباتو پایلو له منلو څخه انکاروکړ او خپلو ملاتړ کوونکو له لارې یې ځای پر ځای په دولتي ودانیو حملې شروع کړې تردې پورې چې د امریکا د کانګرس په ودانۍ یې هم په هجوم ور وړو سره ورته په لویه پیمانه زیانونه واړول دکرمو له امله چې امنیت ساتونکو ارګانونو په واشنګټن ښار کې ګرځبندیز اعلان کړ کوم چې تردې شیبو پورې نافذ اوجریان لري.

د ټرمپ وروستي ګامونه د هغه د خپل ګونډ (ری پبلګن) مشرانو لخوا هم وغندل شول اوس مهال نړۍ کې پر هغو زیانونو بحثونه روان دي کوم چې ټرمپ د خپل واک په موده کې امریکا ته واړول، د کتونکوپه اند کله چې ټرمپ د سپینې مانۍ څخه ووځي نړیوالو ته به اصل راز جوت شي چې ټرمپ دخپلو اتحادی هیوادونو په ملتیا کې په منځني ختیځ او جنوبي اسیا کې څومره ظلمونه کړي دي؟ په خاصه توګه بیت المقدس ښارچې یې کله د اسراییل د پلازمینې په توګه اعلان کړ اوپه دې سره یې چې په اسلامي نړۍ او فلسطینیانو کوم ظلمو نه کړل هغه په تاریخ کې ساری نه لري.

ټرمپ چې کله په واک کې راغی نو سملاسي یې د جنوبي اسیا لپاره نوې وحشیانه ستراټیژي و ټاکله په خاصه توګه افغانستان کې د جګړې ګټلو ویاړ ترلاسه کولو پخاطر یې د جګړې په ټول تاریخ کې ترټولو زیات بمباردونه پیل کړل چې په سبب یې زمونږ دهیواد په کلیو اوښارونو کې په زرګونو عام ولسي وګړي یې په ډ بره بې دردۍ او بې رحمۍ سره په شهادت ورسول، داعش جنګیالو ته یې ډول، ډول مرستې او

کومکونه ددې لپاره ورکول پیل کړل څو د هغوی له لارې دامریکا پرضد روان جهاد او مقاومت کمزورى شي.

خو کله چې ترمپ په دې پوی شو چې دجګړې ګټلو د ویار چانس نلري او که هرڅومره نورزیات وحشتونه اوظلمونه ترسره کړي بیا به هم بری ترلاسه نکړای شي اونه به روان جهاد او مقاومت کزورى کړای شي نو هغه وچې په نه زړه یې د مذاکراتو اوخبرو سلسله پیل کړه، د خبرو په جریان کې یې تل هڅه داوه چې په یوه نه یوه بهانه خبرې لغوه اعلان کړي او بیرته د خپل پخواني وحشیانه مسیر پر لیکو روان شي، خو داچې د جګړې پای ته رسولو په باب د افغانستان اسلامی امارت پالیسې او دریځ په نړۍ کې دعامو خلکو لخوا دزیات هرکلي ویلو سره مخ شو او د نړۍ اکثریت خلکو په دې باندې باور راغی چې افغانستان کې د سولې دښمنه امریکا ده اوهغه نه غواړي چې جګړه پای ته ورسوي، په دې لړکې د امریکا دننه هم د خلکو داکثریت لخوا د جګړې سره مخالفت وښوده چې زیات شمیر امریکایان دجګړې مخالف دي او په دې ترسره کیدونکو سروې ګانو ښود له چې د خلکو لویه سلنه دجګړې د دوام پرضد رایې ورکولې او د جګړې له غځولو سره یې مخالفت په ډاګه کاوه، نو ترمپ د دې لپاره چې دولسمشرۍ په انتخاباتوکې د جګړې مخالفو امریکایانو ملاتړ د ځان کړي نو د جګړې د پای ته رسولو او له افغانستانه د امریکایي عسکرو د ویستلو لړۍ یې پیل کړه کومه چې تردې مهاله دوام لري، خو پیښه دا وشوه چې د دې باوجود هغو خلکو چې تل د جګړې سره مخالف ول او دامریکایي عسکرو وربللو پلویان وو د یته زړه ښه نکړ چې د راتلونکو څو کالو لپاره ترمپ د امریکا ولسمشر پاته شي نو هغه و چې دامریکایې وګړو لوی اکثریت دترمپ سیال جوبایدن ته زیاتې رایې ورکړې او هغه یې د ولسمشر په توګه غوره کړ، څوک چې به دروانې میاشتې (جنوري) په ۲۰مه نیټه دامریکا د نوي ولسمشر په حیث لوړه وکړي که څه هم دافغانستان په اړه د بایدن تګلاره مجهوله ده اولا نده جوته چې هغه په راتلونکي کې څه په پام کې لري؟ خو سیاسي کارپوهان تردیره دادمن دي چې بایدن به هم دجګړې پای ته رسولو پالیسې تعقیبوي او هغه به هیڅکله کومه نوې پریکړه ونکړي زکه کله چې د ترمپ نه وراندې بیدن د اوباما په دوره کې د ولسمشر د مرستیال په حیث دنده سرته رسوله نو هغه مهال د جګړې د دوام سره مخالفت څرګنداوه او له افغانستانه دځواکونو ویستلو پلوي یې کوله هو! د ترمپ د مواخذې لپاره دامرکا کانګرس لخوا پریکړه لیک منل شوی دی، نو ممکن چې څنګه هغه له سپینې مانۍ ووځي د لویې او تاریخی مواخذې سره به مخ شي.

با عزته سوله او که له سولې ډار...!

لیکوال: جواد عمري

له ځلویښتو کلو راهیسې لومړی ځل دی چې د سولې خوږې او باعزتې کلیمې نوم له هر افغان نه اوریدل کیږي، او ټول جنګ ځپلي افغانان د یو جل وهلي مسافر په څېر چې پرته له اوبو نه یې تنده په بل څه نه ماتېږي په بې صبرۍ سره د سولې انتظار کوي، او همدا د افغان کشالې وروستۍ حل بولي.

د سوله غوښتونکو افغانانو حال د هغه چا غوندې دی چې ژوند یې د ویرې او امید تر منځ قرار ولري، که ځلویښت کلن جنګ او د افغانانو ستړیا ته وکتل شي نو د سولې امیدونه زیات شي او که د ځینو واک غوښتونکو واکمنانو خبرې واورو چې د واک د ساتلو هڅه کوي او سولې ته چندانې لیواله نه ښکاري نو د سولې په اړه مو تشویشونه څو چنده زیات شي.

هغه د مفکر وینا چې ((د واک د انتقال لپاره یوازینۍ لار انتخابات دي)) دا خبره په ډاګه کوي چې دا خلک یوازې په واک کې پاتې کیدل غواړي او بس نور نو نه د ملت په غم کې دي او نه د سولې لپاره کومه مثبته اراده لري.

د دغه وینا په اوریدو سره مې د مفکر هغه د انتخاباتو پر وخت هغه خبره را یاده شوه چې ((سولې ته د رسیدو لپاره یوې پنځه کلنې دورې ته اړتیا ده)) نو یقیني شوم چې ښاغلی سوله د خپل واک په خاطر نور پنځه کاله ځنډول غواړي، مفکر په هر قیمت خپله دوره پوره کول غواړي او سوله د خپلې دورې تر پایه ځنډول غواړي. بیا که سوله راغله او که نه دده په هیڅ طرف کې زیان نشته، ځکه نه خو د روانې جګړې بیه پرې کوي او نه هم د جنګ قرباني دی، هغه متل ده چې (ځمکه هغه سوزي چې اور پرې بل وي).

دا ډول څرګندونې دا خبره په ډاګه کوي چې مفکر او ټیم یې د سولې د روانو خبرو سره هیڅ علاقه نلري او ترینه په ډار کې دي، کنه تر اوسه پورې یې د سولې په اړه هیڅ یوه هیله بښونکې جمله نده استعمال کړې، بلکه هره خبره یې د سولې په اړه له تشویش اچونکې وي.

د واک پرګدی ناستو مکرجنو واکمنانو دا شعار چې (مونږه باعزته سوله غواړو) هم راته شکمنه ښکاري، دا د سولې تقسیم باعزته او بې عزته ته ددوي د فریب نه ډکه کړنه ده پدې سره دوي ولس ته د سولې په اړه ویره انتقالول غواړي هغه ویره چې د سولې د راتګ په اړه یې همدوی لري، دوي و خلکو ته دا ذهنیت ورکول غواړي که چیرته ددوي په شرائطو برابره سوله راشي دا با عزته سوله ده او که ددوی د نامعقوله شرائطو سره برابره نوي بیا بې عزته ده.

نه داسې نده! بلکه سوله په هر حال با عزته ده، سوله د نجات لار ده، او د جنګ د ختمولو یواځنۍ او وروستۍ حل لاره ده.

داچې د دوحې له مذاکراتو نه مخکې د بې قید او شرط مذاکراتو خبره زمزمه کیدله اوس نو طبعا باعزته او بې عزته ته د سولې تقسیم د سولې څخه د ډار ښکاره ثبوت دی، همدا شان د سرو کرښو ټاکنه هم د سولې لپاره ښه نیت نه بلکه ویره ده، او خپله د خپلې خبرې (بې قید او شرط) پورې خندا کول دي.

د سولې په دې اساسو مرحلو کې باید د سولې په اړه هیله بښونکي خبرې وشي، د سولې لپاره د ښو نیتونو اظهار وشي، په پوره اخلاص، ایمانداری او صداقت سره د سولې لپاره کار وشي.

په دغو حساسو شرایطو کې داسې خندا اچونکي څرګندونې د روان جګ په لمبو د تیلو پاشل دي، یوازې دا نه چې په داسې خبرو د جنګ لمبې لا پسې زیاتیږي بلکه بې اعتمادي او بې اعتنایې رامنځ ته کیږي او دا شیان د سولې روان بهیر زیانمنولی شي.

پدې حساسو شیبو کې باید کوشش وشي چې د اعتماد فضا را منځ ته شي، تر څو سوء تفاهم له منځه ولاړ شي او د سولې لپاره دا تاریخي فرصت ضایع نشي.

د بمبارونو او وحشت تېزول د څه لپاره؟

حسن مومند

کابو۱۰ میاشتې وړاندې د افغانستان د اسلامي امارت او امریکا د متحده آیالاتو ترمنځ په دوحې کې د اشغال د خاتمې تړون رامنځته کېدل، بېشکه چې یو ډېر مهم پرمختګ و.

د رامنځته شوي دې تړون له مخې د اشغالګرو پوځیانو د وتلو لړۍ پیل کېدل او د دوی د ناپاک وجود نه ددوی د سترو اډو خالي کېدل، د ۵ زره طالب بندیانو ازادېدل، په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو پیل کېدل او ددې مذاکراتو لپاره د اصل په توګه د دوحې د تړون منل کېدل ډېرې مهمې مادې وې چې عملي شوې.

د نړۍ په علم کې ده چې د کابل لاسپوڅې اداره ددې تړون د رامنځته کېدو او د تړون د رامنځته کېدو نه پس د یادو مهمو مادو د تطبیق سره سخته مخالفه وه. پدې لار کې یې د موانعو د ایجادولو سختې هڅې وکړې؛ خو چې پرې د امریکا فشار و، نو په مات زړه یې منلو ته چمتو شوه او دا دی د بین الافغاني مذاکراتو دوهم پړاو هم پیل شو چې ورسره د افغانستان د ستونزې د حل او د افغان مسلمان ولس د غوښتنې سره پدې هېواد کې د یو خپلواک او سوچه اسلامي حاکمیت راتلو هیلې په ولس کې ډېرې زیاتې شویدي.

مور د امنو! چې د کابل اداره د هېڅ منلو ته نه وه چمتو؛ څه یې چې ومنل د امریکا د سخت فشار په نتیجه کې یې ومنل چې دا د دوحې رامنځته شوي تاریخي تړون ته د امریکا د عملي ژمنتیا نښه ده.

خو ددې تړون یوه مهمه ماده د امریکا او نورو اشغالګرو د بمبارونو او عملیاتو بندیدل وو چې په مقابل کې یې اسلامي امارت هم بهرنیو یرغلګرو ته په امن سره له افغانستان نه د وتلو او د وتلو د لړۍ د تکمیل ډاډ ورکړی و.

اسلامي امارت له خپل لوري په تړون کې شویو تولو تعهداتو ته خپله ژمنتیا ثابته کړې ده او په تېرو لسو میاشتو کې داسې یوه بهلګه نده لیدل شوې چې د توافق نه د اسلامي امارت په مخالفت تعبیر شي؛ چې پدې حقیقت په دې وروستیو کې د امریکا د متحده آیالاتو د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو هم اعتراف کړی دی.

نړۍ ښه پوهېږي چې نه اسلامي امارت د جنګ نه ستړی شوی دی او نه یې هم دښمن قوي شوی دی، بلکې دښمن د جنګ نه ستړی شوی؛ مورال یې بایللی او د شکست تر سرحده رسېدلی او اسلامي امارت د پخوا په پرتله ډېر قوي شویدی، خو بیا هم تړون ته ژمن دی، تړون ته ژمنتیا او په تړون کې په شویو تعهداتو وفا خپل ديني او اخلاقي مسئولیت ګڼي.

خو متأسفانه چې مقابل لوري پدې وروستیو کې په مکرر ډول د تړون ضد داسې کړنې ترسره کړیدي، لکه په لوی لاس چې ددې تړون ماتول غواړي. ټول ولس شاهد دی چې پدې وروستیو کې د هېواد په مختلفو برخو کې د امریکایې پوځیانو او د کابل لاسپوڅې اداري د وحشي اجیرو عسکرو له لوري پر

ولسي سيمو بمبارونو زور اخستی او هم د اجيرو عسکرو وحشي تهاجمي عمليات زيات شويدي چې د بمبارونو په ګنو پېښو کې د يو کور ټول غړي هم له منځه تللي چې د نيمروز ولايت د خاشرود تازه خورا درونکې پېښه يې ژوندی ثبوت دی.

د ولس پر ضد د وحشت پيل شوې دا نوې لړی د دوحې ترون د ماتېدو له خطر سره مخامخ کوي او د افغانستان د ستونزې په حل کې رامنځته شوي پرمختګونه د سختو ګوابسونو سره مخامخ کوي او د لويو اميدونو نه پس په ولس کې ستره ناهيلي خپروي چې دا ددې ولس سره ډېره ستره جفا ده.

پر افغانانو تپل شوي تېر ۲۰ کلن جنګ کې د بهرنيو اشغالګرو او داخلي لاسپوڅو ځواکونو له لوري پر مظلوم افغان ولس د ترسره شويو وحشتونو نه ټوله نړی خبره ده، حالات د نړی مخې ته دي، ټوله نړی پدې هم پوهيږي چې دې هېواد کې د مظلوم افغان ولس پرضد ډېر زور وکارول شو؛ خو دلته د زور کارولو هره تجربه ناکامه وه چې پدې پخپله بهرنيانو هم تل اعتراف کړی.

او د ظلم او زور کارولو ناکامی ته په پام سره امريکا ومنله، چې د افغانستان ستونزه بايد د خبرو له لارې حل شي. هماغه و چې د اسلامي امارت سره مذاکراتو کولو ته چمتو شوه او د اوږدو مذاکراتو په نتيجه کې د دوحې ترون رامنځته شو.

اوس چې امريکايي شغالګرو او لاسپوڅو يې يو ځل بيا پر ولس د بمبارونو او تهاجمي بې رحمه عملياتو په کولو سره د خپل زور نمايش پيل کړيدی، چې ترې داسې ښکاري لکه د ناکامو تجربو يې چې عبرت نه وي اخيستی.

د کابل اداري مشران يو شمېر امريکايې نظاميان او د وسلو سوداګر چې د جنګ دوام کې خپلې ګټې ويني، د سولې د سبوتاژ کولو هڅې کوي او دلته د جګړې او اشغال دوام غواړي؛ طبعي ده چې دوی به د خپلو سياسيونو د غولولو او د جنګ دوام ته يې د مايله کولو هڅې وکړي، خو د امريکا نوی سياسي قيادت بايد پدې پوه شي چې افغان مسلمان مت ته د کرغېړن اشغال نه د هېواد ازادي ډېره مهمه ده، په يو حالت کې ترې هم تېرېدونکي ندي او نه هم د دې عالي هدف د حصول لپاره د روان جهاد نه ستړي کېدونکي دي.

دا هم له چا پټه نه ده چې اسلامي امارت د بل هر کله په پرتله په برتر سياسي او نظامي موقف کې قرار لري، خو دا چې اسلامي امارت مسؤل او ژمن جهت دی، نو تر څو چې شوني وي د مقابل لوري سره به په شويو تعهداتو وفا کوي.

په دوحه کې شوی ترون د خپل ولس او هېواد په ګټه بولي، نو تر خپل توان به يې ماتېدو ته نه پرېږدي او د مقابل جانب په خپنو تخطياتو به سترګې هم پټوي چې دا د اسلامي امارت ضعف نه؛ بلکې پر خان د باور، د ولس هيلو او د هېواد عالي اهدافو ته د درناوي او اخلاقي لوړتيا دليل دی.

د دوحې د ترون عملي کېدل چې زمور لپاره مهم دی، همداسې زمور د مقابل لپاره هم مهم دی، نو بايد له دې حساسې او حياتي موضوع سره زمور په خبر مسئولانه چلند وکړي، نور دې زمور د ولس ژوند او هيلو ته بې ارزښته نه ګوري او نه دې خپل پوځيان او مال ضايع کوي، د جنګ طول به دوی ته له ناکامی، تلفاتو، بدنامی او بې عزتی پرته بل هيڅ له خان سره ونلري.

د حاضر جوابۍ او ځیرکتیا یوه بېلګه....!!

د امام ابوحنیفه رحمه الله د وړوکوالي یوه کیسه مشهوره ده، چې د نومورې بې ساري ځیرکتیا، د حاضر جوابۍ عجیبه وړتیا او د عقلي ذهانت یو تصویر وړاندې کوي.

مؤرخین علماء لیکي؛ د رومي سلطنت له لوري یو پلاوی د مسلمانانو سیمې ته راغی، په دوی کې یو داسې پادري هم موجود و، چې ظاهراً خو عیسائي مګر په حقیقت کې دهري و، غوښتل یې له مسلمانانو سره د هغوی د عقایدو په اړه بحث او مناظره وکړي، لومړی یې د الله پاک د وحدانیت، مکان او کردار د څرنګوالي په اړه د پوښتنې کولو اراده وه، ترڅو په ساده عقلي پوښتنو مسلمانان لاجوابه کړي.

کله چې د رومیانو وفد را ورسیدی او د مسلمانانو په سیمه کې د یوې لویې غونډې تاییا ورته وشوه. پادري ممبر ته وخوت او ویې ویل: زه له تاسو نه څو پوښتنې لرم، لومړی دا چې تاسو خو د تثلیث عقیده ردوئ؛ یو خدای منئ، دا راته ووایئ چې تر الله تعالی مخکې خدای څوک و..؟

خلک هک حیران پاتې شول چې د دې څواب به اوس څه وي؟ چا څواب ورنکړ، پادري او ملګري یې خوښ شول چې مسلمانان یې لاجوابه کړل.

په دې وخت کې امام ابوحنیفه رح چې په عمر ډېر کشر و؛ له خپل پلار نه یې اجازت وغوښت چې زه یې څواب وایم، پلار یې ورته اجازه وکړه، اعلان وشو چې یو کم عمره ځوان به ددې سړي څواب ووایي.

امام صاحب را وړاندې شو، پادري چې پر ممبر ناست و، امام صاحب یې په مخکې ودریدی ورته ویې ویل، سوال کوونکی د شاګرد په مثال وي، او څواب ورکوونکی د استاذ په شان! لهذا ته له ممبره را کوز شه بیا سوال وکه او زه به پر ممبر کښینم، ستا جواب به ووایم.

پادري همغسې وکړل، له ممبره را کښته سو او امام صاحب پر ممبر کښیناست.

- پادري: تر الله تعالی وړاندې څوک وو؟
- امام صاحب: یو، دوه، درې حساب وکه او بیا راته ووایه: چې تر یوه وړاندې کوم عدد دی؟

● پادري: تر يوه وړاندې خو هېڅ عدد نشته.

● امام صاحب: بس نو ستا سوال همدلته حل شو، کله چې په اعداد و شمار کې تر يوه مجازي عدد وړاندې څه نشي راتلی، نو تر واحد حقيقي وړاندې به څنګه بل عدد يا يو شی شتون ولري؟

نو څکه زمور ايمان او عقيده دا ده چې الله تعالیٰ واحد او لاشريک ذات دی، له ابتدار او انتهاء څخه منزه (پاک) دی.

● پادري: دا راته ووايه چې د الله تعالیٰ مخ کوم لوري ته دی؟

● امام صاحب: اول ته ما ته د دې خبرې خواب راکه چې کله ته د رڼا د ترلاسه کولو پخاطر شمع يا لاټين بل کړي، نو د هغه مخ يا لوری کوم طرف ته وي؟

● پادري: د شمع مخ خو هرې خوا ته وي، ځکه بيا شمع رڼا نه کوي.

● امام صاحب: نو بس دا مسئله هم حل شوه، کله چې د مجازي نور د رُخ لوری معلوم نه وي، نو د الله تعالی د وجود چې نورِ حقيقی دی؛ رُخ به يې ولې د يو جهت پابند وي. لهذا زمور ايمان او باور دا دی چې الله تعالی د خپل علم سره په بلاکيفه شکل هرځای موجود دی.

● پادري: هر شی په يو نه يو شکل يو ځای موجود وي، نو ته راته ووايه چې الله ده؛ چيرې ؟

● امام صاحب: ته شيدې راوغواړه، شيدې راوړل شوې، پادري ته يې وويل، ته باوري يې چې په دې شيدو کې کوچ شته؟ پادري وويل، هو شته. امام صاحب ورته وويل، راته پيدا يې کړه چې کوچ د شيدو په کوم ځای او کوم طرف کې دي؟

● پادري: کوچ خو د شيدو په هره قطره کې شتون لري.

● امام صاحب: بس نو د څمکې او اسمانونو خالق هم د خپل بلاکيف قدرت سره د کاناتو په هره برخه کې هر وخت موجود دی.

● پادري: د الله کردار څه دی، الله هر ځای څه کوي؟

● امام صاحب: د الله ډېر کارونه وي، ډېر څه کوي، يو کار يې دا دی چې ستا غوندې کافر يې له ممبره را کوز کړ او زما غوندې مسلمان يې پر ممبر کښيناوه، ته يې کښته او زه يې اوچت کړم، ته يې ذليل او زه يې عزتمن کړم. فسبحان الله ولک الحمد.

له دې سره مناظره د امام صاحب او د مسلمانانو په بريالیتوب سره پای ته ورسيده، دهري او د هغه ملګری وفد ټول هک حيران، پاتې شو، له همغې ورځې د دې کم عمره خوان (نعمان بن ثابت/ امام ابوحنيفه رحمه الله) ځيراکت، حاضر دماغي او ذهانت په دنيا دنيا کې مشهور سو. او خلکو ورنه د علم زده کړه پيل کړه.

ژباړه له: (الفقه والفقهاء-ص۴۹) مأخذ نه.

د اسلامي حاکمیت هدف!

نوعیت او ماهیت!

ابوظهیر شمس
په تیرپسې

داسلامي حکومت هیئت، مقاصد او اوضاع

د اسلامي حکومت جوړولو هدف یواځې د امنیت تأمینول ندي بلکې د امنیت راوستو ترڅنګ نورې ځانګړتیاوې هم لري، د کومو په وجه چې دنورو حکومتونو او نظامونوڅخه ممتاز دی، لکه: د ټولو غوره او هغوکارونو سرته رسول کوم چې بشریت لپاره د خیر او نیکمرغیو سبب ګرځي او له هغو ټولو منکراتو مخنیوی کول کوم چې بشریت ته د بدمرغیو اړولو سبب کیږي.

نو اسلامي حکومت چې دیوې عقیدې، مفکورې او نظریې تابع او ساتونکی دی، د ژوند په نورو شعبو کې هم د هغې د پلي کول مسؤل دی، بنأ د ټولو ادارو په نظم ونسق اوقانون جوړولو کې به د اسلامي اوعقیدې او نظریې سره ترون ځرګند او برملاوي.

په بل تعبیر داسلامي حکومت واکمن به هغه خلک وي، کوم چې په اسلامي دستور ایمان اوباور لري او کوم چې داسلامي سیاسي مفکورې سره اتفاق لري، هغه خلک چې اسلامي دستور نه مني او یا داسلام د سیاسي مفکورې سره اتفاق نلري هغوی ته به د اسلامي حکومت د نظم ونسق په چوکاټ کې ونډه نه ورکول کیږي او نه به ورته حکومتي مناصب ورکول کیږي.

داسلامي حکومتولی بڼه او ماهیت:

یوه اهمه او د پام وړ مسئله داسلامي حکومتوالی د ماهیت او نوعیت ده، چې په اړه یې دا پوښتنه کیږي چې ایا د ماهیت له پلوه اسلامي حکومتوالي د منځنیو پیړیو له مسیحي حکومتونو [پاپائیت/ تیوکراسي] سره مماثلت لري؟ ماهیت یې ټولواک (کلیت پسندانه) که شورایي و جمهوري؟ ایا د شاهي و موروثي پاچاهیو نظریه د اسلامي سیاسي نظریې سره مطابقت لري؟ همدا راز په نویو مغربي مصطلحاتو کې هغه کومه یوه اصطلاح ده چې پرې د اسلام سیاسي نظریه په پوره ډول منطبق کیدای شي؟ یعنې داسلامي حکومت ماهیت او د هغه سیاسي اوضاع په نویو مغربي اصطلاحاتو کې هم تشریح کیدای شي کنه؟

ښکاره ده چې اسلامي حکومت يا سياست د نړۍ په معاصرو رياستونو او حکومتونو کې يو جلا او منفرد نوعيت لري، چې نوي مغربي سياسي اصطلاحات يې دځانګړي نوعيت او ماهيت د پوره ترجمانۍ څخه قاصردي بلکې د هغو د استعمال او داطلاق په باره کې د موجوده فکري انتشار يوه لويه وجه هم داده چې کوم مسلمانان او نا مسلمانان غواړي چې داسلام سياسي نظريه او حکومتي نظام په نويو مغربي مصطلحاتو کې د وړاندې کولو يا بيانولوکوښښ وکړي هغوی اصلاً داسلامي ټولنې مسائلو اوستونزو ته يواځې د مغربي تاريخي تجرباتو د زوايې څخه دکتنې کوښښ کړي، حال داچې نوي مغربي اصطلاحات لکه: جمهوريت، اشتراکيت، پاپائيت اوپارليماني نظام ټول يو خاص ديني، تاريخي، کلتوري او سياسي شاليد لري او هريو د بل نه جلا، جلا مفاهيم لري په بل تعبير هر يوې ديوې مطلقې او غيرمتبدل معنی لرونکی دی، نو د هغو تراشل شويو سياسي عنوانو نو او اندونو انطباق په اسلامي سياست او حکومت کول مناسب ندي مثلاً: د جمهوريت اصطلاح چې نن سبا تر ډيره په هم هغه اصلي معنی کې استعمالېږي، کومه چې د فرانسوي انقلاب زېږنده ده، يعنې د ټولو ښاريانو ترمنځ د عمراني او اقتصادي مساوات اصول او د ټولو بالغانو (وګړو) ديوې، يوې رايې په بنا د غوره کړای شويو استازو په زريعه حکومت تشکيلول او د دې اصطلاح پراخ مفهوم دادی چې عامو وګړي په ټولو اجتماعي معاملاتو کې داکثريت اصل ته په کتو د قانون جوړولوپه برخه کې لامحدود واک لري او ښکاره ده چې د عامو وګړو پوره رضايت په هغه حالت کې شونی دی کله چې هغوی د ټولو خارجي بنديزونو اوقيوداتوڅخه ازاد وګرځول شي او هغوی (عام وګړي) دومره فايق اوبرتروګنل شي چې د ځان پرته بل هيڅا ته ځواب ويونکي نه وي، نو د مغربي جمهوريت مفکوره چې له آراه مغرب وړاندې کړې ده، که هغه له دې پلوه چې «داسلام په نزد هم ټول انسانان دعمراني اعتبار له پلوه يودي او د ټولولپاره د ودې وارتقاء کولو فرصتونه يوشان اوبرابر دي» مماثل بريښي، خو له دې پلوه داسلامي نظريې سره يو مخ متضاد ښکاري چې «اسلام په مسلمانانو باندې دا لازمه کړېده چې هغوی ټول به خپلې فيصلې د هغه الهي قانون تابع ګرځوي کوم چې عظيم الشان قرآن کې شته دی او رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغه باندې دعمل کولو نمونه وړاندې کړې ده، همدا وجه ده چې دامت لخوا د قانون په جوړولو بنديز لګول شوی دی او ورته په کتو سره دعامو وګړو اراده برترې نلري، کومه چې د مغربي جمهوريت لاينفک جزده، په همدې وجه داسلام په سياسي نظريه باندې د مغربي جمهوريت د اصطلاح اثباتاً يا نفياً اطلاق کول ابهام پيدا کوي

ورته حال دتيا کراسي (پاپاييت) هم دی اروانبادډاکټر محمد حميد الله رح ليکلي دي چې داسلامي حکومت څرنګوالی يا نوعيت په منځنيو پيړيو کې اروپا کې ارمنځته شويو حکومتونوپه څير ندی، يعنې د ټياکراسي نه مراد که هغه جکومت شي کوم چې په منځنيو پيړيو کې اروپا کې رامنځته شوی و، چې دواک ټولې واګې به د پاپانوپه لاسو نو کې وې، هر چې اسلام دی هغه کې دغسې حکومت څای نلري وجه يې داده چې اسلام کې دپاپانو د نظام پشان کوم نظام شتون نلري او نه کومه داسې اداره شته ده چې هغه دمسيحي کليسا سره مترادف وګڼل شي.

په اسلام کې هربالغ مسلمان حق لري، چې هغه هره ديني دنده سرته ورسوي، هيڅ فرد يا ډله دا دعوه نشي کولی چې هغه د ديني وظايفو په سرته رسولو کې کوم خاص تقدس يا اجاره داري لري، په نو دې وجه په اسلامي ماحول کې دټياکراسي (پاپايت) اصطلاح يومخ بې معنی ده، البته د اسلامي حکومت په مفهوم کې الهي حکومت ضروري دی دکوم دټولو قوانينو سرچينه چې الهي وحې ده.

غرض داچې د اسلام په سياسي افکارو اوادراتو باندې دغير اسلامي مغربي اصطلاحاتو اطلاق کول لويه تيروتنه او اشتباه ده، زکه داسلام سياسي نظريه خپل خاص مفاهيم لري، کوم چې بل څای نه مندل کېږي او تشريح و تعبير يې هم يواځې داسلامي اصولو او افکارو دننه او داسلامي اصطلاحاتو سره موافق کيدای شي.

دعلامه محمد اسد په تعبير: اسلامي حکومت ديوې عمراني لوظنامي په زريعه منځته راځي، کوم چې به د الله تعالی دحاکميت لاندې واکمنې يا اقتدار لپاره امين وکفيل وي او هيڅ يوه ډله او ياکورنۍ هم پکې تخصيص نلري، د حقوقو او فرايضو سرته رسولو له پلوه ټول ښاريان سره برابردي او هم پخپله واکمن له حقوقي پلوه دامتپه نورو افرادو هيڅ کوم تفوق اوبرتري نلري حاصل داشو چې اسلامي واکمنې دخپلو فکري څانګړتياوو او امتيازاتو له پلوه هم ملوکيت، سلطنت او پاپاييت ګڼل کېدای نشي، بلکې د دوی ټولو ترمنځ يوه منځلاره ده.

دعلماوو په نظر: د اسلام سياسي نظام څنګ چې د ملوکيت، شهنشاهيت، مطلق العنانيت او استبداد کلک مخالف دی بعينه د مغربي جمهوري مخالف هم دی اسلام د ټولو نظامونو دننه دشته مفاسدو اوخرابيو نه پاک او د يو معتدل طرزالعمل داعي يا علمبردار دی، په دې وجه اسلامي هيوادونوته د مغربي سياسي افکارو او نظرياتو راوړل او دخورولوهڅې يې داسلام په سياسي اصولو او اندونو، سياسي او اجتماعي نظام باندې يې د بريدونو کولو سره مترادف دي.

داسلامي حاکميت اوضاع:

پوښته: داسلامي حکومت وضع و هيئت به څه ډول ي؟ يعنې دهغه ترکيبي غړي «اجرائيه،

مقننه او قضائیه»په خاصه توګه د اجرائیه او مقننې دتشکیل کړنلاره به څه ډول وي؟ ایا پکې درسول الله صلی الله علیه وسلم د مثالي اسلامي حکومت او د راشده خلافت د سیاسي اوضاع پیروې یا تقلید کول ضروري دی؟ یا داچې اسلام په دې باره کې په اساسي تجویزونو وړاندې کولوباندې اکتفا کړې ده دکومو په لحاظولو سره چې د هردورې دغوښتنو او اړتیاوو سره سم داسلامي حکومت د تشکیل هیئت تعین کیدای شي، حکومتي قالب او اداري چوکاټونه یې رامنځته کیدای شي؟

په دې باړې کې د علامه محمد اسد رایه داده چې اسلام موږ د ټولو تفصیلاتو سره سم د حکومت تشکیلولو په برخه کې موږ د کوم ځانګړي صورت یامنهج په منلو نه یو مجبورکړي یو، اسلام یواځې دحکومیت دځرنګوالي سره دلچسپي لري که حکومت په اسلامي نظریه باندې باور ولري او اسلامي قوانین نافذوي، نوپخپلمنځي مشورې سره او د هغو مقاصدو سره سم وړاندې یادل شول حکومت چې هر هیئت او وضع و لري هغه به داسلام سره متصادم نه ګڼل کېږي، زکه چې مسلمان دشریعت مزاج اومقاصدوته په کتو سره دهر دور اجتماعي اوسیاسي اړتیاووته په پام لرلو سره دوخت حکومت هر هیئت (وحداني، مرکزي او نور...) غوره کولی شي البته دحکومتي سیستم لپاره د خاص نظام او هیئت غوره کولو یاتاکلو پر مهال به یواځي د نقالي (دمعاصرو نظامونو او صورتونو) نه د ځان ژغورلو لپاره د واقعیبینانه تخلیقي رویې غوره کول پکاروي.

علامه محمد اسد دا نظریه پرځای نه مني چې ګواکې اسلام د حکومت د تشکیل لپاره کوم خاص هیئت اومعین منهج اوهم دنورو حکومتي ادارو لپاره کوم ځانګړی شکل یا قالب تاکلی دی اوپه دې لړکې یواځي دراشده خلافت د تاریخ نظایر دوروستنو لپاره واجب التقلید دي، داسد په رایه داسلامي حکومت دظاهري اشکالُ او وظایفو لپاره دا ضروري نده چې خامخابه هغه دکومې تاریخي نمونې سره موافق وي

په دې اړه نور تفصیل بیا...

د ډلو تپلو پلاوی د مذاکرې

او د ارګ د تخریبي موقف همغږی!

■ سعد کتوازی

هر مهال او وخت له ځان سره هغه څه لري چې مخکې او وروسته وختونه يې ښايي ونلري، له ټن نه وړاندې په بشريت، مسلمانه ټولنه، د يو ملت په توګه افغاني ټولنه او د يو هيواد په حيث په افغانستان کې ډېر څه تېر شوي چې په اړه يې ټن مورِ د خپل تېر تاريخ له ټکي استفاده کوو، په کيسو کې يې د تېر تاريخ په نوم يادوو او ښه يا بده ګټه تري پورته کوو.

پر هغو د ټن د پېښو اړوند کيسې د راتلونکي لپاره ورزياتوو؛ چې بيا د همغه وخت نوی کهول او نسلونه ورته د تېر تاريخ وايي، که مورِ په خپلو ليکنو او يادښتونو کې له خپل تېر او اوس څخه ګرد نه وي پورته کړی، نو هغه مهال يې دوی ارزوي، په اړه يې څېړنې کوي، خپل مهال ورسره پرتله کوي، پر تړاو يې پرېکړه کوي او تري د اړتيا وړ ګټه پورته کوي.

که څه هم د يوې پېښې يو واقعيت او د همغه پر بنسټ روايت هم يو وي او د پېښې پر انځور کوم غبار نه وي، خو چې وروستيو تجربو وښوده، د پېچلو تکتيکونو پر مټ تبليغاتي هڅو، ناسم برداشت، رونډ قضاوت او دېته ورته نورو لاملونو له وجې د ځينې پېښو په تعقيب د هغو په مقابل کې نورې را ولاړې شي، د هرې لومړی د اثبات او دوهمې د رد لپاره څېړنې، ارزونې او پرېکړې رامنځته شي او بيا دا درې واړه هم له ځان سره مخالف او موافق نظرونه لري چې ورسره د يوې پېښې اړوند ډېر روايات منځ ته راشي او د هغې پر واقعي انځور غبار پرېباسي.

په هېواد کې وروستۍ څو میاشتې هم همداسې وې، له خان سره یې ډېرې هغه پېښې لرلې چې تر خپل منځ سره په خورا لوړ توپیر او آن د سپین او تور په تضاد کې وې، دا د سولې هغه د جګړې، دا د خوښۍ هغه د غم، دا د امن هغه د ګډوډۍ ، دا د ویاړ هغه د پېغور، دا د برم هغه د شرم ، دا د ازادۍ او خپلواکۍ هغه د پردیپالۍ او بلواکۍ، دا ښه زېرې هغه د خطر زنګ، دا هیله ښونکې هغه نهیلي کونکې، دا د ګټې هغه د زیان، او... او بیا د هرې پېښې په اړه ګڼ خو متضاد روایتونه وو.

ځینې پېښو خو لا له دوو جلا لحاظونو دوه یا ډېر متضاد او منځني اړخونه هم لرل، که سر له اوسه تړې ګرد پورته او روایت یې په ریښتوني واقعیت انځور نشي، په راتلونکې کې به یې د تېر تاریخ په حیث څېړنه او ریښتونی انځور را برسېره کول له یوې خوا خورا ستونزمن او له بلې خوا یواځې د تاریخ او د هغه د مثبت او منفي اړخونو سره بلدو لیکوالانو او څېړونکو کار وي، خو په خواشینۍ سره چې دوی هم زیاتره یا په فزېکي او یا هم فکري لحاظ ترور او له منځه وړل شوي چې اوس مو پرې ویاړلی تاریخ د محوې او ژور تحریف له ګوابښ سره مخ دی.

دا چې ښایي د راتلونکې لپاره زموږ لیکنې او یادښتونه د نړۍ او ممکن د لېرې ماضي د تاریخ برخه شي؛ د ځینې پېښو خپل بې غباره او لنډ روایت د کابل پر نړیوال پوهنتون له برید څخه را پیلوو، دغه برید چې پکې لسګونه محصلین مړه او ژوبل شول؛ په داسې حال کې ترسره شو چې له اوږد ځنډ وروسته د کابل پاشلې اداره د بهرنیو فشارونو په ترڅ کې توانېدلې وه، د بین الأفغاني مذاکراتو لپاره د ډلو ټپلو پر یو ګډ پلاوي سلا او په دوحه کې له طالبانو سره د بین الأفغاني جهتونو په نوم کښېني.

برید چې د پیل له لومړیو شېبو یې پرې پر طالبانو ور وغورځول شوه، پېچلی او د طالبانو له بریدونو سره په ښکاره توپیر کې و، طالبانو د ردولو ترځنګ وغنده او هم پر دې سربېره عیني شاهدانو، د پېښې طبیعي شواهدو، د برید څرنګوالی، د داعش ډلې په نوم یې د پرې پر غاړه اخیستنې، د یو جعلي ویډیو کلیپ له لارې بېرته انکار او د طالبانو کار بللو، وروستیو څېړنو او ارزونو هم طالبانو ته بشپړ برأت ورکاوه، بلکې لا د کابل دولت پر استخباراتي کړیو یې تاوان کړ.

خو د ارګ لومړي مرستیال او د کابل امنیتي چارو نوي مسئول صالح یې له دې هرځه سره په تقابل کې بیا هم پرې پر طالبانو ور غورځوله، که څه هم د صالح له دې موقف څخه جوته شوه، چې تر شا یې د هغه لاس دی، خو د برید انګېزه یې هلته ښه په ډاګه شوه؛ چې له پای

ته رسېدو شپېه وروسته د شپې له تیارې په استفاده د نامالومه کسانو پر حواله د پوهنتون پر پنجرو سوله ضد پوسټرونه لګول شوي و، په داسې حال کې چې سیمه هم د ځواکونو له لورې کلابنده وه، د ځپړونکو په اند برید د تبلیغاتي موخو لپاره ترسره او صالح غوښتل له خان سره ولسونه هم د سولې پر وړاندې ودروي.

له یاد برید وروسته صالح د طالبانو پر حواله پر تعلیمي ادارو او ځینې اشخاصو د ورته نورو بریدونو او د ارګ ویاند هم تبلغاتو د نوي چمتو والي خبر ور کړ چې د دې پر تعقیب خبریال یما سیاوش په کابل، محصل ارمان په ننګرهار، الیاس داعي په هلمند، د فراه جوین والسوالۍ خطیب غلام سخي په فراه، خبریاله ملاله میوندی په ننګرهار، خبریال فردین امیني په کابل، د الجزېرې خبریال رحمت الله نیکزاد په غزني، سیاسي فعاله پرشته کوهستانۍ په کاپیسا، د محابسو اړوند یوې ښځینه روغتیاپالې په ګډون څلور ډاکټران په کابل او تازه د صدای غور خبریال بسم الله عادل په غور ولایت کې د هدفي بریدونو او یا د چسپکي ماینونو له امله ووژل شول.

پر دې سربېره د ولسي- جرګې غړي خان محمد وردګ په موټرېز کاروان درې جلا چاودنې، د کابل ښار کې له موټرو د ښار پر نورو برخو د لسګونه راکټونو بریدونه او ځینې نورې وړې او لویې پېښې چې طالبانو غندلې او پره یې یا خو چا منلې نه ده او یا هم د صالح استخباراتي ګروپ چې تر سره کړې بریدونه د داعش په نوم مني، پر غاړه اخیستې او د هوایي او هاوان بریدونو پره خو له منلو پرته هم د کابل دولت پر غاړه ده.

دا ډول بریدونه، چاودنې او مرموزې وژنې چې بهرنۍ او کورنۍ دښمن د سیاسي موخو لپاره ترسره کوي؛ زیاتر پکې یا هغه خبریالان، سیاسي فعالان او... په نښه کېږي چې د دوی هر ډول ګټو ته په هره بېه ژمن او خپله دغه ژمنتیا یې په اثبات رسولې هم وي، په طبیعي ډول دوی د دښمن له پټو رازونو او لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونو څخه خبر وي چې اوس یې دښمن د افشا کېدو د مخنیوي بله چاره نه وینې او د همدې وړې له امله یې ووژني او له منځه یې یوسي.

او یا هم هغه ازاد خبریالان، سیاسي فعالان او... دي چې حقه او سپینه وینا، سوله خوښي او د حقه حقوقو چیغه پورته کول یې د دښمن د ګټو پر وړاندې خنډ جوړېږي، دښمن یې له منځه وړي او پرې د حقې او سپینې وینا غږ جبري خاموشوي، خو ځینې وژنو ته چې د منلو وړ توجیه ونشي موندلای، تر وروستي بریده هڅې کوي مرموزي پاتې او پام تړې پر بل لوري واړول شي، لکه د یما سیاوش وژل کېدو د یوې میاشتې په دننه کې د ځپړنې ډاډ ور کول شوی و، خو

اوس د دوو میاشتو پر وتو یې لا هم څواب نه دی ویل شوی، همدارنګه د فردین امیني مرموزه وژنه چې کورنۍ یې په اړه د پلټنې غوښتونکې شوه، خو صالح تهدیداً چپ کړه.

د دې تر څنګ پر سیاسي، ډلییزو او شخصي- مخالفینو یې د پرې په ور اچولو تبلیغاتي ګټه هم تري اخلي؛ ترڅو ولس او نړۍ د بهرنیو څواکونو له وتو سره په افغانستان کې د وضعیت خرابېدو ته اندېښمن کړي، پر ولسي- کورونو، مسجدونو، مدرسو او...د چاپو او بمبارۍ، پر هیواد دننه لارو کوڅو او بهر ته تللو لویو لارو کې د ولسي خلکو د څورونکې پلټنې او لوټنې لپاره یې پلمه کړي او...

دا چې له کابل پوهنتون را وروسته نورې پېښې هم طالبانو پر وخت له ردولو سربېره غندلې هم دي او د کابل دولت یې هم پر طالبانو د پرې په ور اچولو دومره ټینګار نه درلود، بلکې د غندنو او په اړه یې د پلټنو لفظي ډاډ ور کاوه، چې بیا تر اوسه شاته غورځول شوي، خو ښایي دا د نورو ترڅنګ د دې لپاره و چې د وخت پر وتو، ناسمو مالوماتو او ګډوډو روایتونو خپرېدو له امله د خلکو له ذهنونو د پېښو واقعي انځور ووځي یا لږ تر لږه پېښې زړې شي، نو ځکه اوس تازه د ارګ د ویاند په همغږۍ امنیتي چارواکو یوځل بیا د یادو پېښو پړه پر طالبانو ور غورځولې ده او د ډلو ټپلو پلاوي مشر- معصوم ستانکزي پر خپلو هدفي بریدونو هم په قطر کې له طالبانو سره د غږېدو خبره کوي.

دا ټولې پېښې، د کابل دولت جګړییز موقف او ورته تراشلي توجیهات یې د بین الأفغاني مذاکراتو او سولې د سبوتاژ د هڅو په برخه کې و چې وروسته له هغه یې زور واخیست چې د سولې او بین الأفغاني مذاکراتو لپاره د ډلو ټپلو پلاوی له کابل څخه قطر ته ورسېد او ورسره سم امرالله صالح ته د کابل امنیتي چارې ور وسپارل شوې، له دې ور هاخوا د صالح او عطانور، ولسي جرګې او رولاغني، د کابل ښاروال سلطانزوی او ولسي- جرګې، د روغتیا وزیر او ارګ او...ترمنځ وروستۍ ناندرۍ او ورسره هم مهاله د ایراني چارواکو څرګندونې هم په دې نزاکتونو کې یواځې تخریبي هڅې ګڼلای شو او بس.

پر دې سربېره د مذاکراتو د مېز خوا کې له کابل څخه د تللي پلاوي هغه څه د بحث سر ته راوړل، چې باید تر ټولو وروسته وای، یواځې د سولې پر شعار یې بسنه او ریښتونې سولې ته یې نه ژمنتیا، پر هغه څه ټینګار چې طالبانو آن د بحث وړ هم نه ګڼل، په مذاکراتو او بیا سوله کې د شخصي او غربي استعماري ګټو تضمینول، د سولې اړوند یې تخریبي تبلیغات، د مېکانیزم رامنځته کېدو سربېره د هغه پر مقدمه دوه میاشتې بې ګټې چنې وهل، پر مېکانیزم او

مقدمه يې له موافقې او د منځنۍ او تيتې کچې لاسليکونو وروسته بېرته شاتګ او د ميکانيزم او ورپسې د مقدمې له بشپړېدو څخه انکار، د خپلمنځي ناندريو له املې د پلاوي دوه توتې کېدل او... هغه څه و چې پرې د ډلو تېلو پلاوي خپله مذاکره د ارګ له جګړه ييز، خونړي او تخريبي موقف سره همپاله او همغږې کړې وه.

دا چې طالبانو ۲۵ کاله هر ډول قرباني په هېواد کې د اسلامي نظام د راوستلو لپاره ور کړې وې؛ اړينه وه د مذاکراتو د بحث په ايجنډا کې داسې څه نه وي، چې له قرآن او حديث (اسلام) سره په ټکر کې وي، ورسره دا چې د هېواد غوڅ اکثريت وګړي د اسلام له ځلورو فرعي اسلامي مذهبونو د حنفي فقهې پيروي دي، ډېرې قرباني هم همدوی ورکړې او يا د مذهب د کشالو د حل يو غوره منهج هم دی؛ د دې ضرورت له چا پټ نه دی چې د بحث د اختلافي موضوعاتو په حل کې قرآن او حديث ته د رجوع پر مهال حنفي فقه معتبره شي او دا چې طالبان د دوحې د ټرون پر اساس بين الأفغاني مذاکراتو ته داخل شوي وو؛ په طبعي ډول دا يو لازمي امر ګرځي چې له امريکا سره د شوېو مذاکراتو پر دوام بين الأفغاني مذاکرات هم د ياد ټرون پر اساس وي او...

خو له کابله ورغلی پلاوی د قرآن او حديث له نوم او دا چې بحث به يې له هغو سره په ټکر کې نه وي جوړ نه راته، چې د جمهوريت او ورته نور خوبونه يې ليدل، په قرآن او حديث کې حنفي فقهې ته د رجوع پر ځای د جعفري فقهې خبره را منځته کړه، د دوحې ټرون يې د بين الأفغاني مذاکرې د اساس په توګه نه مانه او...ورپسې د ۲۰ورځنۍ وقفې له پېل سره سم چې د ملا برادر پر مشرۍ د طالبانو يو چګپوړي هيئت ګاونډي هېواد ته سفر پېل کړ، د کابل دولت چارواکو ادعا وکړه؛ چې ګڼي ياد هيئت دغه سفر د دوی په همغږۍ کړی او ورپسې يې په افغانستان کې د پاتې مذاکراتو تر سره کولو او د ځای ټاکلو خبر هم رامنځته کړه چې دا ټولې د سولې پروسې تخريبي هڅې وې.

خو که لنډ ووايو د طالبانو او امريکا ترمنځ مذاکرات چې د افغانستان د کشالي د هواری لويه برخه جوړوي او په بريالیتوب سره په دوحه کې بشپړ شول، بين الأفغاني مذاکرات يې دوام دی چې بايد هملته بشپړ کړل شي، په يو داسې مهال چې طالبان ورته رارسېدلي يا ورته داخل شوي، د ځای بدلول د شاتګ مانا لرلای شي او هغه هم د کابل د دولت پر وړاندیز او غوښتنه چې که له ورايه هرڅومره ساده ښکاره شي، په واقع کې خدای ج مکړه منزل ته د رسېدو په وروستي ګام کې يو ستره او نه جبرانېدونکې ماتې وي.

په ۲۰۲۰ کال کې

په اسلام مشرف شوي څينې مشهور شخصيتونه

۱ - کاناډايي تورپسته مېرمن، روزي ګيبريل:

روزي ګيبريل د کاناډا هېواد تبعه ده، مشغله يې سياحت دی، شاوخوا ۵۷ اسلامي هيوادونو ته يې په تېره يوه لسيزه کې سياحتي سفرونه کړي دي، نومورې وايي؛ د ۲۰۱۹م کال دېره برخه يې په پاکستان کې تېره کړې، دا وايي : زه چې هر اسلامي هيواد ته تللې يم، هلته ما ته په ښه سترګه کتل شوي، په وينا يې ما ته له دېرې تجربې وروسته خرګنده شوه چې اسلام په رښتيني توګه د خواخوږۍ، امن، سکون او عدالت دين دی.

نومورې وايي،: زه بالآخره دې نتيجې ته ورسيدم چې زه اسلام قبول کړم، د ۲۰۲۰م کال په نيمايي کې نومورې مسلمانه شوه او پر خپل انسټاګرام اکاونټ يې د اسلام قبلولو اعلان وکړ.

۲ - د يوټيوب تر ټولو زيات سبسکرايبرز لرونکی وګړی **(جې پلفري)** د برتانيې اوسيدونکی (جې جورج وليم پلفري) د ۲۰۲۰م کال په نهمه مياشت سپتمبر کې اسلام قبول کړ.

نومورې په سوشل ميډيا، خصوصاً يوټيوب کې په ميليونونو فالوورز لرونکی وګړی دی چې د اسلام په دين مشرف کيږي. د ده هم د ژوند يوه لويه برخه اسلامي هيوادونو ته په سياحت کې تېره شوې.

د خواله رسنيو دغه برتانوی فعال جي جورج وليم پلفری د تېر سپتمبر مياشتې په اوږدو کې د ترکيې هيواد استانبول ښار په سليمانيه جومات کې په داسي حال کې ليدل کيږي چې د شهادت کلمه وايي او د مسلمانېدو اعلان کوي.

څو شيبې وروسته يې، (زه مسلمان شوم) په نوم د ۷ دقيقو ۲۵ ثانيو يوه ويډيو خپره کړه او بيا يې د اسلام د شهادت کلیمه تکرار کړه.

۳ - **ميرمن ميا**، چې خاوند يې د پاپ موسيقار کيم ډيوډ يو کال مخکې مسلمان شو، د جنوبي کوريا د عيسايانو د مشر-پادري وتلې موسيقار، کيم ډيويډ (داؤد) په ۲۰۱۹م کې له منسوخ عيسوي دين څخه منصرف او د اسلام سپيڅلی دين يې قبول کړ، د نوموړي ميرمن (ميا) هم د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې د اسلام په مقدس دين مشرفه شوه.

د تېر نومبر په مياشت کې د هغې خاوند کيم ډيوډی (داؤد) د My wife became a Muslim په عنوان پر يوټيوب يوه ويډيو نشر-کړه، چې په هغه کې يې ميرمن هم په حجاب کې را څرګنده شوه چې د شهادت د کلیمې ورد يې په خوله وو. او د خپل اسلام قبلولو اعلان يې وکړ.

۴ - د هالنډ هيواد نامتو سوک وهونکی **(روبی جيسيا ميسيو)** د هالنډ يا نيدرلينډ د لېډي ټايسن او کک باکسر په نوم مشهور چمپين روبي جيسيا ميسيو، د روان دوه زره شل کال په نومبر مياشت کې په داسي حال کې د اسلام کلیمه وويله؛ چې د يو شمير مسلمانانو په منځ کې په جومات کې ناست دی. نوموړی د ټولو په وړاندې په لوړ آواز سره کلمه طيبه او کلمه شهادت وايي، د خپل اسلام منلو اعلان کوي او زياتوي؛ چې نور يې منسوخ نصرانيت پريښی او پخپله خوښه يې د اسلام مبارک دين منلی دی او ورپسې په سوشل ميډيا هم خپله دغه ډول اعلان تکرار کړی دی.

۵ - د سويډن هيواد د بوکس وهنې چمپين **(بډوجيک)** د سويډن هيواد نامتو سوک وهونکی (بډوجيک) د ۲۰۲۰ کال په اګست مياشت کې د خپل اسلام راوړلو اعلان وکړ، په خواله رسنيو کې په داسي حال کې راڅرګند سو چې د مسلمانانو په يوه جومات او يا عام عبادت ځای کې پر لمانځه ولاړ دی. او تر څنګ يې د سوک وهنې پخوانی ستوری مايک ټايسن چې اسلامي نوم يې عامر عبدالله دی؛ په عبادت مصروف ښکاري. د دوی دا تصوير ميليونونو خلکو پر خپلو پاڼو شير کړی.

له خواله رسنيو څخه ....

أنس الأفغاني

د زابل د ميزاني ولسوالۍ د سنګرونو اتل مجاهد

شهید نورالله ـ حقمل یار

د ژوند قیصه یې مه شنه دردونه پکې پټ دي
په زړه یې ګوتې مه وهه زخمونه پکې پټ دي

هغه آتل، مجاهد چې د ځوانۍ د بهار د پیلبدو سره سم د جهاد په سپین سپیځلي صف کې شامل او د سنګرونو خوا ته یې مخه کړه. لس کاله مسلسل یې د جهاد سنګر ګرم وساته، او د هغو څخه دري کاله یې په زندان کې تیر کړه، چې بالآخر هغه ستر سعادت د شهادت الله تعالی ورپه برخه کړ، د کوم سعادت آرزو چې خپله رسول الله ـ صلی الله علیه وسلم ـ په خو خو وار کړې وه.

شهید نور الله ـ حقمل یار د زابل ولایت د میزاني ولسوالۍ اوسېدونکی، د محترم حاجي جانان اکا زوی، او د حاجي خان محمد خان اکا لمسی و.

کله چې أمریکایانو او ورسره مل اشغالګرو زمونږ پر ګران وطن افغانستان اشغال راوړ، او افغانستان یې اشغال کړ. هغه وخت نومورې د خپلې ځوانۍ پسرلي ته لا نه و رسېدلی، مګر د جهاد شوق او جذبه یې هم له أقوالو او هم له افعالو ښکارېده.

د نومورې مجاهد د کوچنیوالي عاداتو هم دا څرګندول، چې په مستقبل کې به الله تعالی د یو آتل، مجاهد خدمت ورپه برخه کړي. هغه داچې الله تعالی د ښه ځوانۍ سره سره په ډېر غیرت او مېرانه هم نازولی و.

نومورې مجاهد زمونږ د کلي او زمونږ د اکا زوی هم و، هغه وخت مونږ کشران وو او دیني سبقان مو ویل. دا د امریکایانو هغه سختې شپې او ورځې وې، چې د شپې به چاپې او د ورځې به جنګونه وه.

په دغو شپو او ورځو کې طالبانو د خپل امنیت، او حکمت پر أساس خپل ځانونه ډېر نه ښکارول، په هغه وخت کې د طالبانو لیدل مونږ ته داسې ناولده خبر وه.

د چاپو سره سره تقریبا په هر ځای کې جاسوسان هم روزل شوي وو.

لکه څنګه چې د افغانستان مجاهد، غیور اولس هیڅکله پر خپله مځکه د کفر اشغال نه دی منلی، او نه به یې په آینده کې ومني. او همیشه یې د اشغال خلاف په مبارزه، او جهاد لاس پورې کړی دی.

دا چې زمونږ تاریخ، او زمونږ پلرونو د جهاد جذبه، او د اشغالګرو خلاف توره مونږ ته په میراث کې پرې ایښې، نو د هغه پر بنیاد افغان ځوانانو یو وار بیا د أمریکایانو اشغالګرو خلاف هغه تاریخ را ژوندی کړ او د امریکایانو، او د هغو د غلامانو په مقابل کې یې سخت تعرضي، استشهادي او ډلییز بریدونه پیل کړه. د افغانستان غرونه، دښتونه یو وار بیا د کفر خلاف د مجاهدینو په قرار ګاوو او مورچو بدل شول.

په هر کور کې مجاهد پیدا شو، او په دې سپېڅلي لار کې هر کور شهیدان، او زخمیان ورکړه.

د مجاهدینو د همدې ټولي نه یو هم شهید نور الله ـ حقمل یار ـ و، چې هغه وخت د نومورې عمر تقریبا د اتلس کالو شاوخوا و، دا نو تقریبا ۲۰۰۵ء میلادي کال و، چې نومورې د جهاد په صف کې شامل، او ددې سپېڅلي لارې لاروی شو.چې بیا یې شاوخوا لس کاله جهاد وکړ او د هغو څخه دري کاله یې په زندان کې ډېر په غیرت تېر کړل. د نومورې په جهادي سفر کې ډېر کړاوونه مخته راغله: لکه چاپې، بند، محبس، او زخمونه وغیره...

د محترم شهید یوه کشره خورکی هم د ظالمانو په ړندو مرمیو شهیده شوه. ده هم د نورو مجاهدینو ملګرو غوندې دا تکلیفونه په ډېر ښه استقامت سره وزغمل.

د نومورې پر کور څلور واړه امریکایانو، او د هغو لاس پوڅو عسکرو په داسې حال کې چاپه ووهل،چې دی به کور ته په رخصتی راغلی و. څلور سره واړه الله تعالی دده حفاظت وکړ.

د دوی د کور د دوو دروازو یو حکمت دا هم و، چې کله به چاپه پر یوه دروازه راغله، دی به پر بله دروازه ووتی.

د نومورې شهید پلار، دوه ورونه هم دده په سبب بندي شوي و، چې بیا بیرته د څه ضمانت په خاطر راخلاص شوه.

په چاپه کې د نیولو قصه:

د زابل په مېزانه ولسوالي کې د کرخچي نامي سیمه کې امریکایانو. او ګودګیانو وربانديې چاپه ووهل، چې د نومورې په شمول شپږ تنه مجاهدین یې ژوندي ونیول.

دوی یې مرکز قلات ته یو وړل، ددوی راپورونه ډېر ورکول شوي و، په دې وجه دوی خپل نومونه بدل ورته وښودل.

چې ددې په خاطر حکومت پر دری هر رنګه فشارونه واچول، وهل ټکول، ددې لپاره چې

تحقیق وربانـدي وکـړي، خـو دوی پـر خپلـه خـبر ټینګ ولاړ وه.

کلـه چې پـر دوی وهـل تـر حـدودو زیـات شول، نو د دوی أمیر محترم ملا سلیم ـ حقمـل ـ د محبس د یو تن مسؤول نمبر پیدا کړ، او هغه ته یـې سخت أخطارونه ورکړه، او ورته ویې ویل:

چې کلی، کور هـر څـه دې راتـه معلـوم دي، قسم په خدای که بیا د زانګو کوچنی لا درپرېږدم، وهل مو بند کړی...الخ

د نومسوړي ددې أخطـار څخـه وروسـته د محـبس مسؤولین ډیر سخت په ښره کـې شـول، څکـه دوی ته د محترم ملاسـلیم أخنـد ـ حقمـل ـ مېرانـه ډده دتکتیکو څخه معلومېده، او سخت څنې ښرېدل.

همدا و چې وهل پر دوی بنـد شـول، او دوی د تحقیق د ځایـه مرکـزي محـبس تـه انتقـال شـول. چې هلته بیا ډیر په أرام وه. مجاهد چې کله د جهاد سنګر ګرم وساتي، بیا هر ځای ورته سنګر ښکاري.

چې د همدې وجې دوی هم د محبس څخـه سـنګر جـوړ کـړ، او پنځـه واړه یـې د محـبس دننـه عسکر سخت وډبول د مدیر په شمول.

چې وروسته د محبس مسؤولین سخت څنـي پـه ښره کـې ول. دوی د مجاهـدینو ګـروپ أکـثره وخت خپل مصرف په خپله کـوی. چې د قریبـانو لخوا ورته راوړل کېدل.

تقریبا د درو کلو محـبس تېرولـو وروسته د دوی د أمیـر پـه کومـک ځـارنوال تـه نـه لکـه (۹۰۰۰۰۰) کلدارې ورکړې، چې د دوسیې پـه سـپکولو سره دی د ظالمانو د پنجرو څخه خلاص شو.

د شهادت قصه:

د بنـد څخـه د راخلاصـېدو وروسـته دغـه نـه ستړی کېدونکی مجاهد یو وار بیا د سـنګرو خواتـه مخه کړه، دوه کاله یې بیا په سنګرو کې تېر کړه.

د بنـد څخـه دوه کالـه وروسـته د۱۴۲۷هـ هجري قمري کال د شوال په میاشـت کـي د زابـل ولایت مېزاني ولسوالي د امکـي پـر سـیمه د سړک سره دښمن ته د ماین د پټولو پر وخـت د شـپې پـر یوه بجه د أمریکایي بـې پیلوټـه الـوتکې پـه نـامرده برید کې د دوو ملګـرو سره د ۲۷ کـالو پـه عمـر پـه شهادت ورسېدی.

(إنا لله و إنا إلیه راجعون)

روح دې شاد او یاد دې تازه وي.

شاعر ذاکر څه ښه ویلي:

د ژونـد قیـصه یې مه شـنه دردونـه پکـې پـټ دي
په زړه یې ګوتـې مه وهـه زخـمونه پکـې پـټ دي

غـوټی وي وغـوړیږي بیرته مړاوې شـي رژیـږي
که عمر یې ډیر کم دی خو رازونه پکې پـټ دي

ملنګـه زنـدګي ده باچـاهي ورتـه عاجـزه
ژوندون د طالبي ښه دی خونـدونه پکـي پـټ دي

تـاریخ بـه دې نـو نـه وي د افغـان ملـت کتلـی
چـې هـره پانـه اړوې ننـګونه پکـې پـټ دي

د افغانستان د اسلامي امارت د کابل د شمالي دوه ولسوالیو نظامي مسئول

شهید ډاکټرصاحب محمد جاوید عمر ژوند لیک او کارنامو ته لنډه کتنه!

ژوند لیک

شهید ډاکټر محمد جاوید عمر د فقیر محمد زوی په کال (۱۳۷۲ هـ ل) د کابل قره باغ ولسوالۍ د قلعه باز په کلي کې و یوې دینداره کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې ـ لومړنۍ دیني زده کړې یې د خپل کلي په جامع جومات او مدرسه کې وکړې وروسته د عصري علومو د زده کړې لپاره په (۱۳۷۸ هـ ل) کال د قره باغ ولسوالۍ د شهید عبدالوکیل عالي لیسه کې شامل او په زده کړو یې پیل وکړو . ډاکټر محمد جاوید عمر دومره ځیرک او ذهین شخصیت وو چې هر کال به په ټولګي کې د ازمویښو وروسته په اعلی درجه بریالی کیدو او د یادې لیسې اداري لخوا به په بیلا بیلو ستاینلیکونو نازول کیدو. نومورې د سختو مصیبتونو، کړاوونو او ناداري سره سره بیا هم خپله د ښوونځي دولس کلنه علمي دوره په یاده لیسه کې بشپړه کړه او د ستړیاوو ډک اوږد علمي مزل ثمره او تصدیق نامه یې ترلاسه کړه.

ډاکټر محمد جاوید علاقه درلوده تر څو لوړې زده کړې هم وکړي او له دې لارې اسلام مبارک دین ته او دا مظلوم ولس ته د خدمت جوګه وګرځي، په همدې موخه یې په (۱۳۹۰ هـ ل) کال د کانکور په ازموینه کې ګډون وکړو چې د نیکمرغه د پایلو د اعلان وروسته خپلې د خوښې پوهنځی فارمیسي ته بریالي شو. نومورې په ډیره مینه خپلو لوړو زده کړو ته دوام ور کړو د خدای تعالی په فضل او د کورنۍ، دوستانو په مرسته یې په (۱۳۹۴ هـ ل) کال د فارمسي پوهنځي څخه څلورکلن ډیپلوم هم تر لاسه کړ او له دې وروسته یې په خپل شخصي ـ لګښت اسلامي پوهنتون کې طب شروع کړو چې د یاد پوهنتون برحاله محصل وو.

کارنامې:

څرنګه چې صلیبي ښکېلاکګرو او سرو لښکرو په دا پاکه خاوره یرغل وکړو، د دې پاکې خاورې ځمکنی او فضائي واک یې په خپل اختیار کې واخیست، ځان یې د دې پاکې خاورې اصلي مالکان ګڼل او په زور یې یرغمل کړې وه. نو میړني اتل ډاکټر محمد جاوید عمر ته دا د زغملو نه وه، چې کرار کښیني، دا یې د ځان لپاره عار او بې ننګي ګڼله، چې د دغو طاغوتي لښکرو پر وړاندې چپ پاتې شي. همدا وه چې د خپلې ځانګړې مینې له مخې یې میدان ته را ودانګل او په وسلوال جهاد یې لاس پورې کړو.

دغه مبړني د خپلو دوه وو شهیدانو مشرانو ورونو چې څه موده مخکې د صلیبي لښکرو او د هغو لاسپوڅو غلامانو لخوا په شهادت رسیدلي وو، په پل ګام واخیست او په دا لاره کې د هیڅ ډول ستړیاوو، مشقتونو ، لوړې او تندې دریغ ونکړو، د دښمن مخ ته لکه اوسپنیز سپر کلک ودرید، دښمن یې پرېښود چې آرامه ساه واخلي. هر ځای به دښمن ته د سترګو خار جوړ وو او له نومه به یې ډارېدل، دښمنانو یې د ژوندي نیولو په پار ځانونه ستړي کړل - دومره زړور ځوان وو چې د یوه شهید وینه یې هم مخکې له انتقام اخیستلو ځمکې ته پرېښوده. بزدل دښمن یې هم په زړورتیا اعتراف کولو او په دا کم عمر سره د دومره تکلیفونو زغملو یې بیا هم دوه کاله کرغېړن زندان تېر کړو.

لکه څرنګه چې ګران هیواد افغانستان هره سیمه ځانته غازیان او اتلان لري، شهید ډاکټر محمد جاوید عمر د کابل ولایت د شمال ولسوالیو یو ستر غازي او زړور ځوان وو. زړورتیا، شجاعت او اتلولي به د دغه ستر غازي د ده ملګري هیر نکړي.

بلاخره غازي مرد میدان، اتل شهید محمد جاوید په ۱۳۹۹/۹/۲۹ هـ ل کال د لیندۍ(قوس) میاشت د شنبې ورځ د کابل ولایت فرزي ولسوالۍ د حسین خیلو په کلي کې د اسلام او وطن دښمنانو لخوا په ډیر مظلومانه توګه په شهادت ورسید او د شهادت جام یې نوش کړو.

(نحسبه کذلک والله حسیبه)

انا لله وانا الیه راجعون

په جهان د ننګیالیو وي دا دوه کاره
یا به او خوري ککري یا به کامران شي

د اتل شهيد قاري محمد شفيع تقبله الله

جهادي ژوند ته لنډه کتنه

محمد قاسم محسن

شهيد قاري محمد شفيع تقبله الله د محمد اکبر صاحب زوی، د مرحوم سيد نور رح لمسی، په قوم معروف خيل او د لوګر ولايت د ازرې ولسوالۍ د دره تنګ د راغه د کلي اوسيدونکی و؛ چې په کال (۱۹۸۵) ميلادي کې يې په دنيا سترګې غړولې وې.

نوموړی شهيد له علم او جهاد سره ډېره مينه درلوده، په ډېر کوچنوالي کې يې ديني زده کړو پسې ملا وترله، (۱۵) کلن و، چې د افغان مهاجرينو په کيمپ کټه کاني کې يې په دارالقرآن مدرسه کې د وخت له وتلي حافظ استاد القرآ حضرت مولنا قاري نور الحق رحماني صاحب څخه يې قرآنکريم حفظ کړ.

نوموړي شهيد له دې وروسته په پېښور کې د اسلامي علومو په مشهوره مدرسه ټمک منډی کې له مشهور او نوميالي قارئ المقري فيض الرحمن صاحب څخه تجويد هم وکړ.

نوموړي حافظ ډېره خوږه خنجره لرله، په ډېر عجيبه او ښکلي انداز کې به يې تلاوت کولو.

شهيد قاري محمد شفيع يو ډېر حياناک شخص و، او ډېر ښه اخلاق يې لرل، د مشرانو عزت او درناوی يې عادت وو.

نوموړي شهيد د لوړو ديني زده کړو د تر سره کولو هيله او ارزو هم لرله، خو نيمګړي ژوند يې د دنيا پاتې ارمانونه پوره نکړل.

کله چې په کال(۱۹۹۶) میلادي کې په هیواد کې د طالبانو اسلامي او ملي تحریک د شر او فساد په خلاف قیام وکړ.

نو شهید قاري محمد شفیع نورالله مرقده، هم په زړه کې له اوله څخه دا تمنا لرله چې له دغه سپیخلي کاروان سره ملګری شي.

هو بې له شکه هغه وخت کې افغان ولس داسې اتلانو، سر سپارلو مجاهدینو او طالبانو ته ډیر ضرورت لرلو، ترڅو د لکونو شهیدانو ارمانونه پوره اسلامي نظام قایم، او هیواد له ورپیښو خطرونو څخه وژغورل شي.

ویاړ په دغو سر شیندلو ځوانانو؛ افغان ولس او تاریخ به هیڅ کله د دغو اتلانو بې ساري قرباني هیره نکړي.

شهید قاري محمد شفیع تقبله الله دغه وخت تنکی ګلابي ځوان و، د ځوانۍ غوتې یې تازه سپرېدلې وه، د خپلو ملګرو سره یو ځای په دغه کاروان کې شامل او ملګری شو.

لومړی پروان جبل سراج ته لاړ، هلته یې په سختو معرکو کې برخه واخیسته!

له دې څخه وروسته نومورې اتل له مجاهدو طالبانو سره یو ځای کندوز ولایت ته لاړ، تر څو هلته دغه سیمې له مخالفینو څخه فتحه کړي، کندوز ته په رسېدو سره سم یاد ولایت د مخالفینو له لورې کلک محاصره شو، او د کندوز ولایت په هوایي میدان او شاوخوا سیمو به یې راکټي بریدونه کول.

چې بلآخره په (۱۹۹۷) میلادي کال کې په(۷) مه میاشت کې د ظالم دښمن په یو راکټي برید کې د کندوز په هوایي میدان کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

انا الله وانا الیه راجعون!

له نومورې شهید سره زمونږ د سیمې یو تن تکړه او غښتلی طالب او قومي مشر ـ ملا صدر اعظم صادق حفظه الله هم موجود و، هغه وایي: چې کله نومورې ولګیده، تلاوت یې شروع کړ او تر ډیره وخته یې په سخت حالات کې تلاوت کولو، تر دې چې شهید شو.

د نومورې شهید جنازه له کندوز څخه په چورلکې کې کابل ته انتقال شوه، او له هغه ځایه په امبولاینس کې لوګر ازرې ولسوالۍ ته یورل شوه، او خپل پلارنۍ هادیره کې خاورو ته وسپارل شو.

نومورې شهید یو تکړه او باستعداه مجاهد و، تل به یې ملګري او عام مسلمانان علم او د جهاد لارې ته هڅول.

ازادي سنا لپاره دومره شول قربان سرونه
دلته له هر نومه مخکې د شهید جمله وي
نحسبه کذلک والله حسیبه.

روح دې شاد او یاد دې تل تر تله پاتې وي.



د اسلامي دعوت اخلاقي بنسټونه

د بدۍ ځواب په ښه رويه کول

ژ: احمدحمزه

هغه ټولنه به ځومره ناوړه او ناخوښه وي چې په هغې کې خلک يوبل ته پښې وهي او د يو بل پرخلاف چلونه او دامونه ږدي، ترڅو يو له بله د بدۍ انتقام واخلي؟!

هغه نفس به ځومره ناولی وي چې که لږ هم يو چا يې په حق کې کمی کړی وي، تر هغو به په کراره نه کيني، چې د سوک ځواب يې په خبته نه وي ورکړی.

مگر که سوچ وکړو، يو چا سره-که هغه هرڅوک وي- نيکۍ کول ، لدې اسانه دي چې د يوچا د بدۍ په مقابله کې ورسره نيکۍ کوې، چا درسره خپلوي پرې کړې وي، له هغه سره دوستي ساتل، او يا يې درسره ظلم کړی وي، هغه ته ښښنه او له بدۍ يې تېرېدل... که څه دغسې حالتونو کې نيکي کول سخت دي، خو همدې ته الله تعالی غوره غبرګون يا په احسنه طريقې سره د بدۍ مخنيوی کول ياد کړي.

الله تعالی فرمايي: {ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ..} (د بدۍ مخنيوی په هغې نيکۍ سره وکړه چې هغه غوره وي)

د الله تعالی لپاره خپل روح ځاروونکی، د اسلام په دفاع کې د لوړې ځوکې جنګيالي او دغسې شهادت غوښتونکي ته دا څه مشکله او ګرانه نه ده چې هغه دې خپله غوسه او جدي احساسات په خپل کابو او واک کې ولري، او هم ښښنه او درګذر وکړي، بلکې له هغه څخه دا تمه کېږي چې د يو چا د بدو په مقابله کې خپل خواهش زور او د انتقام اور بېرته په نيکۍ ورګرځولو سره مات او مړ کاندي.

د توپيري شخصيت جوړونې لپاره دا ضروري ده چې نفس دې په نيکۍ وروزي، دا بيا د دوه مخيتوب او د مطلق اتباع په پرېښودلو سره پيليږي، حديث کې راځي:

(لا تكونوا إمَّعة؛ تقولون إن أحسن الناس أحسنّا، وإن ظلموا ظلمنا، ولكن وطِّنوا أنفسكم إن أحسن الناس أن تحسنوا، وإن أساؤوا فلا تظلموا) [سنن الترمذي]

تاسې له ځانونو څخه راندې متبعين (چې خلکو سره په هرڅه کې ملګرتيا کوئ!) مه جوړوئ، تاسې وايئ: که خلکو نيکي کوله، بدله کې به نيکي ورسره کوو او که هغوی تېری کاوه ، بدله يې هم په تېري ورکوو؛ ليکن تاسې په خپلو نفسونو ومنئ چې که چا ښه کول، تاسې ورسره ښه وکړئ او که بد يې کول، نو تاسې ظلم مه ورسره کوئ!

لکه څنګه چې دغه معنا د حضرت عثمان ﷺ په وينا کې هم څرګنده ده: که خلکو نيکي کوله، له دوی سره نيکي کوئ، که بد يې کاوه، نو تاسې هغوی ته له ضرر رسولو ډډه وکړئ). (صحيح البخاري: رقم: ٦٩٠). د توپيري شخصيت جوړونې لپاره د نفس ذليله کول او ماتول د مجاهد شخصيت کار دی، که دا وي بيا مجاهد په بابيزه او چتي کارونو کې د ځان ښکېلولو او د ړندې اتباع له اسارته باسي.

کله چې قدم وښوييږي او واګي له لاسو پرېوځي، بيا انسان دخپلو بدو کړو له وجې يوې ستړې کندې ته ورکولېدونکی وي، نو دخير په رسولو سره د خپلې غلطۍ اصلاح ته ښېره وکړه، ترڅو د ذلت آثار له منځه يوسې او د اصلي فطرت او طبيعيت رنګ د مسلمان په نفس کې راوګرځوې، ځکه دا ستا له ورور سره د بدۍ په غوره مخنيوي کې مرسته کوي ، او په واقعيت کې د رقابت هر ميدان په نيکۍ او په نيکۍ سره د بدۍ د مخنيوي په خويونو مالامال ګرځي؛ بيا د غوره اخلاقو جادوګر سلوک په اکثرو حالتونو کې د متو په زور او د انتقام په شور زورور شي، بيا رقيب هم خپل اخلاق بدل کړي او دوست شي، په همدې اړه الله تعالى داسې فرمايي:

{وَلَا تَسْتَوِي الحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ} [فصلت: ٣٤] او اې پېغمبره نيکي او بدي سره برابر نه دي؛ ته د بدۍ مخنيوی په هغې نيکۍ سره وکړه چې هغه غوره وي، (بيا به ته پايله وګورې) هغه چې تا سره يې دښمني وه، هغه دې لکه: خوږ دوست ګرځولی.

ابن عباس ﷺ ددې آیت په تفسیر کې وایي: (ادفع بحلمك جهل من يجهل عليك) د يوه ناپوه د ناپوهۍ د سلوک مخنیوی په خپل حلم (نرمۍ) سره وکړه. (تفسير القرطبي ١٥/ ٣٦١.)

له هغه ﷺ څخه دا وینا هم رانقل شوې چې فرمایي: د مسلمانۍ کار داده چې غوسې په وخت کې نرمي، د ناپوهۍ په وخت کې نرمي او د بدۍ په وخت کې بخښنه وکړي، که دا کار یې وکړ، نو الله تعالی به یې له شیطان څخه وساتي، دښمن به یې ورته داسې سرتیټی او ذلیل کړي لکه هغه چې ورته نږدې خوږ دوست وي.

په نیکۍ سره د غبرګون ښودونکو حالت دا وي چې خپل وقار او عزت وساتي او د پاروونکو او مدارياتو په خبرو ونه غولیږي، الله تعالی د دوی توصیف داسې کړی:

{وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ} [المؤمنون: ٣]. او هغوی (مؤمنان) هغه څوک دي چې له چټیاتو څخه مخ اړوونکي دي. {وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ ...} [القصص: ٥٥] او کله چې هغوی بابیزه خبرې واوري، مخ ورڅخه اړوي.

{... وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا} [الفرقان: ٦٣] کله چې جاهلان پرې وربرج وهي، هغوی وایي: تاسو ته سلام دی. {... وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا} [الفرقان: ٧٢]، او که په کوم چټي (بې ارزښته) کار باندې تېریږي، نو د شریفانو خلکو غوندې وربانديې تېرشي.

الله تعالی خپل پیغمبر ته په نیکۍ سره د غبرګون ښوولو په مجال کې فرمایي:

{... وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ...} [النحل: ١٢٥] او له هغوی سره په غوره طریقه مباحثه وکړه. {وخُذِ العَفْوَ وَامُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الجَاهِلِينَ} [الأعراف: ١٩٩]. (اې پیغمبره! ﷺ) د نرمۍ او ښنې لار غوره کړه، په ښو کارونو حکم کوه او له ناپوهانو سره مه ښلېه.

د غوره عکس العمل ښودلو لپاره تر ټولو ادنی شکل داده چې: خپله غوسه تېره کړه، او احساسات کابو کړه، بیا ته ګوره الله تعالی تا د حورو په انعام مشرف کوي، هغه چې پیغمبر ﷺ یې تاته زیری درکوي:

«من كظم غيظًا وهو قادر على أن ينفذه، دعاه الله على رؤوس الخلائق يوم القيامة؛ حتى يخيّره في أي الحور شاء» که چا خپله غوسه وخوړه او هغه یې په ترسره (نافذولو) قادره وي؛ الله تعالی به یې د

قيامت په ورځ د ټول مخلوق په وړاندې وستايي، تردې چې هغه جل جلاله به يې د حورو په خوښونه کې هم اختيارمند وګرځوي). [صحيح سنن ابن ماجه للألباني].

د انسان لپاره ترټولو خطرناکه داده چې سړی دخپل نفس لپاره د انتقام کندې ته وښويږي، خاصکر هغه وخت چې غچ اخيستنه د يو واکمن او صاحب منصب لخوا وي، يو سړی نبي ﷺ ته راغی ، له خپل خادم څخه يې شکايت کاوه: وې ويل: زما خادم دی ، ډېر بد وضعيت او ظلم کوي، آيا زه يې ووهم؟ هغه ﷺ ورته وفرمايل: «تعفو عنه كل يوم سبعين مرة» (له هغه څخه هره ورځ ۷۰ ځلې ببښنه کوه) مسند أحمد/وصحح أحمد شاكر إسناده (٨/ ٢٨ برقم ٥٦٣٥).

د پيغمبر ﷺ خپلو صحابه و ته ترټولو وروستنی وصيت داو چې (له انصارو سره غوره تعامل وشي...: هغه وفرمايل: «که د محمد ﷺ له امته چاته مسئوليت سپارل کيږي، کولای شي چاته ضرر يا چاته نفعه ورسوي، د نيکي کوونکو نيکي دې قبوله کړي او د بد رسوونکو په بدی دې سترګې پټې کړي».

او دا هغه اخلاق دي چې حضرت عائشې ﷺ به د پيغمبر ﷺ اخلاق ګڼل: هغه وايي: (.. ولا يجزي بالسيئة السيئة، ولكن يعفو ويصفح) هغه ﷺ بد په بدو نه ورګرځوي، مګر ببښنه او درګذر يې کوي. (صحيح سنن الترمذي). په تورات کې يې هم همدا صفت راغلی څنګه چې د امام بخاري په روايت کې راځي.

د چا د بدو په عمل کې غوره غبرګون ښودلو يوه طريقه دا هم ده چې ته خپل بد رسوونکي ته دعا وکړې ، په دې اړه انس ﷺ د الله تعالى دا قول: {ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ} تفسير وي: دبدی مخنيوی په غوره طريقې سره وکړه

هغه داسې فرمايي: (که سړی خپل ورور ته داسې څه ووايي چې هغه کې نه وي، نو هغه دې ورته ووايي: که ته دروغجن يې، زه الله تعالى ته سوال کوم چې تاته ببښنه وکړي او که ته رښتونی يې نو زه الله تعالى څخه غواړم چې ماته ببښنه وکړي. (تفسير المراغي: ٥٤/١٨، سورة المؤمنون)

تردې پورې چې يو صحابي کبيره ګناهګار وښکنځه، ورته وې ويل: (أخزاك الله) الله تعالى دې شرمنده کړه! خو له دومره بدکار سره سره نبي ﷺ صحابي ته وفرمايل: داسې مه وايئ ، په هغه باندې

(يعني د هغه خلاف) له شيطان سره مرسته مه کوئ ، خو داسې ووايئ چې الله تعالى دې پر تا رحم وکړي «لا تقولوا هكذا، لا تعينوا عليه الشيطان، ولكن قولوا رحمك الله» [مسند أحمد ٢/ ٣٠٠، ورواه البخاري في الحدود]

که هر انسان وغواړي بل انسان ته د هغه د شر هومره جزا ورسوي، خلک به د ښو خصلتونو څخه واوړي، پداسې يو ځنګل کې به ورک شي، چې لوری لودن به ترې ورک شي، په ځانګړي توګه هغه وخت به ډېر بد وي چې بد رسوونکي ته د جزاء ورکولو حالت کې شيطان هغه يوځل بيا بدی ته هڅوي؛ يو صحابي نبي ﷺ ته راځي، شکايت کوي: (يا رسول الله، إن لي ذوي أرحام، أصل ويقطعون، وأعفو ويظلمون، وأُحسِن ويسيئون، أفاكافئهم؟ قال: «لا، إذًا تتركون جميعًا، ولكن خذ بالفضل وصلهم، فإنه لن يزال معك من الله ظهير ما كنت على ذلك» مسند أحمد ٢/ ٢٠٨،(إسناده صحيح). اې د الله رسوله! زما خپلوان دي ، زه ورسره خپلوي کوم ، هغوی يې نه کوي، زه ورته بښنه کوم، هغوی ظلم کوي، زه ورسره نيکي کوم، هغوی راسره بد کوي، آيا دوی سره همداسې وکړم؟ هغه وويل: نه! بيا نو ته هغوی ټول پرېږده ، په خپل غوره والي د هغوی خپلوي وپاله، الله تعالى به تر هغې له تاسره يو ملاتړی وګرځوي، څو پورې چې تا دغسې کول». (مسند أحمد ٢/٢٠٨، اسناده صحيح).

يو بل سړي له نبي ﷺ نه پوښتنه وکړه: يو سړی دی، زه ورباندې تېرېږم، هغه زما اکرام نه کوي، زما ميلمه پالنه نه کوي، بيا هغه پرما تېريږي، آيا زه هغه سره همداسې وکړم؟ هغه ﷺ وويل: «نه، د هغه اکرام وکړه».

دا د عفوې ترټولو لوړ مقام ګڼلی کيږي، چې ته د چا د بدو په مقابل کې ښه ورسره وکړې، څوک چې دا کار کوي، په هغه دې د الله تعالى غوښنه ونده مبارکه وګرځوي، الله تعالى فرمايي : {وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ} دغه صفت يوازې د صبر کوونکو په برخه کيږي و دغه مقام يوازې هغو خلکو ته چې د غټې برخې خاوندان دي، په برخه کيږي. [فصلت: ٣٥]

په همدې سره به د خير او فضيلت معناوې او وړانګې په نفسونو کې را ژوندی شي، خلک به په نيکی رسولو کې فخر کوي، د شر او بديو دروازې به په شيطان وتړل شي، بيا به د بدی لپاره کوم مجال نه وي چې پرسوب وکړي، بلکې نيکي او احسان به يې رالاندې کړي، د شرارتونو ټول اسباب به يې له منځه يوسي.

په افغانستان د شوروي اتحاد د يرغل د ٤١مې کلیزې په اړه د اسلامي امارت اعلاميه

۴۱ کاله وړاندې د ۱۳۵۸ لمريز کال د جدي مياشتې په شپږمه د شلمې پیړۍ استعمار د افغانستان په حريم يرغل وکړ، ترڅو زمونږ هيواد مستعمره کړي، خپله منحوسه مفکوره او نظريه پرې ومني او دا غيور ولس د تل لپاره د ځان غلام کړي.

دې هدف ته د رسېدو لپاره شوروي اتحاد خپلې سرې لښکرې او کورنۍ لاسپوڅي په ټول قوت سره وکارول، زمونږ د ګران هيواد خاوره يې لوبشت په لوبشت بمبار او په مرميو غلبيل کړه، بې وزله او مظلوم ولس يې شهيد، يتيم، زخمي او زنداني کړ او مهاجرتونو ته يې اړ يوست، اما خپل هدف ته ونه رسېد. الحمدلله

د افغانستان مجاهد ولس د لوړ، تبر، لاسي بمونو او زنګ وهلیو توپکونو په مټ د شلمې پیړۍ د سور ښامار مقابله وکړه. مهاجرتونه او سترې يې وزغملې، شهيدان يې ورکړل، زندانونه او دول دول تکليفونه او شکنجې يې وګاللې، خو نه يې خپل هيواد شوروي لښکرو ته پرېښود او نه يې خپل ارزښتونه د هغوی تر پښو لاندې کړل.

دې مجاهد ولس د خپل متعال رب جل جلاله په نصرت، متين عزم او سترو قربانيو نه يوازې د کمونيزم لښکرې ماتې کړې؛ بلکې د شوروي اتحاد امپراطورۍ يې د تاريخ کندې ته لاهو کړه.

د شوروي لښکرو ماتې او د هغوی د کورنيو لاسپوڅو خجالت دا درس ورکوي چې که هر څوک افغان ولس د اشرارو، ترهګرو او يا په بل نوم ووژني، خپل فکر او ايډيالوژي به پرې تحمل نکړای شي.

افغانستان د غيرتي مسلمانانو کور دی، دا مجاهد ملت د خپلو ديني او ملي ارزښتو په دفاع کې هر ډول قربانۍ ته اماده وو، دی او وي به.

د افغانستان ملت نه له دې وړاندې چ ته ضرر رسولی او نه يې آينده کې اراده لري، خو په خپله خاوره کې خپلواک او آرام ژوند، آزادي او د ازرښتونو ساتنه يې هم فرض او هم اړتيا ده، هر څوک چې ورته په دې لاره کې خنډ ګرځي، په ميرانه يې مقابله کوي او د خپل استقلال لپاره له مبارزې نه ستړی کېدونکی هوډ او توان لري. ان شاء الله تعالی

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۲/۵/۱۱هـ ق

۱۳۹۹/۱۰/۶هـ ش ـــ ۲۵/۱۲/۲۰۲۰م

کابل کې پر محصلینو او زده کوونکو د چاپو اچولو او بندیانولو په اړه

د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو کمیسیون اعلامیه

د کابل اداري وحشي استخباراتو په کابل کې له لیرې ولایتونو څخه د راغلیو محصلینو او زده کوونکو په لیلیو او اطاقونو باندې چاپې اچولې دي او شاوخوا تر (۲۰۰۰) دوه زرو زیات محصلین او زده کوونکي یې نیولي او بیولي دي، چې د ډېرو یې تر اوسه برخه لیک ندی معلوم.

یو شمېر محصلین چې د دوی له کرغېړن بند څخه بېرته راخوشي شوي وایي، چې عسکرو بوتلل او یوه شپه یوه ورځ یې د ژمي په سړه هوا کې ساتلي او ځینې نور یې شکنجه کړي، وهلي او ټکولي دي، چې دوی سره دغه ناوړه چلن د دوی په رواني وضعیت منفي اغیز کړی دی.

همدا ډول څه موده مخکې په کابل کې د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ یو محصل رحمت ګل د سپین ګل زوی چې په کابل کې یې د انګلیسي- او کمپیوټر کورسونه ترسره کول، د کمپنۍ اروند آبرسانۍ په سیمه کې په شهادت رسول شوی دی.

دغه راز څو ورځې وړاندې د لغمان ولایت علینګار ولسوالۍ کې مزدورو عسکرو د حضرت بلال رضی الله په نوم د یوې لیسې په زده کوونکو داسې مهال ډزې کړې، چې په یاده لیسه کې له امتحان ورکولو وروسته، دخپلو کورونو په طرف روان وو.

په دغه پېښه کې ۲ تنه شاګردان (سعیدالله او عرفان الله) شهیدان او ۲ نور ژوبل شوي وو.

د هېواد د علم او پوهې دښمنان پرته له کوم مشخص او وضح هدف څخه په زده کوونکو او محصلینو شکنجه کوونکي او وژونکي بریدونه ترسره کوي.

د افغانستان اسلامي امارت د تعلیم او تربیې او د عالي تحصیلاتو کمیسیون په محصلینو، زده کوونکو او دې ته ورته په تعلیمي مراکزو، دیني مدارسو، مساجدو او نورو عامه شتمنیو او تأسیساتو باندې بریدونه په کلکو ټکو غندي، او په هیڅ ډول یې دتوجیه وړ نه بولي، بلکې یوازې د وحشت ښودنې، ویرې خپرونې او پروپاګند کولو په موخه شومې کړنې یې بولي او په دې کې د کابل اداري د لورې سطحي مسئولین شریک بولي. چې خورا په ډېره بې شرمۍ سره په بې دفاع زده کوونکو ورته وحشتونه ترسره کوي، یاد کمیسیون له ټولو علمي او تعلیمي نهادونو څخه غواړي چې دکابل اداري د دا ډول وحشتونو مخه ونیسي.

۱۴۴۲/۵/۲۳هـ ق

۱۳۹۹/۱۰/۱۸هـ ش

۲۰۲۱/۱/۷ م

دمورچل دارالافتاء

د بوټ د پاکۍ طریقه

پوښتنه: پدې سوړ ژمي کې په هغو بوټانو چې کعبان پکې پټ وي، مسح کولو کې زمور د مجاهدینو لپاره ډېره اساني ده، خو کله مو پام نه وي یا په تورو شپو کې له یو نه بل ځای ته ځو او په لارو کې مو بوټان دغو شیانو یا قاذوراتو سره ولګېږي نو د لوی مشکل سره مخامخ شو، ځکه چې د بوټ تلی بې له ویستلو نه وینځل کېږي او چې بوټ وویستل شي نو مسح ماتېږي؛ نو آیا د ګنده شي سره د بوټ د تلي د لګېدو په صورت کې دبوټ دتلي وینځل ضروري دي که د پاکېدلو یې بله لار هم شته؟

الجواب باسم ملهم الصواب

د ګندګۍ سره د لګېدلو په صورت کې د بوټ د تلي وینځل ضروري ندي بلکې که د خاورو پورې نښه ومخل شي یا ورپورې پاکه تیږه او تشناب کاغذ داسې نښه ومخل شي چې د ګندګۍ اثر(بوی او رنګ) له منځه ولاړ شي نو دا بوټ پاکېږي.

لما فی الهندیة: الخف اذا اصابته النجاسة ان کانت متجسدة ...اذا مسحه علی وجه المبالغة بحیث لا یبقی لها اثر یطهر وعلیه الفتوی لعموم البلوی، کذا فی فتاوی قاضی خان؛ وان لم تکن النجاسة متجسدة اذ التصق بها مثل التراب او القی علیها فمسحها یطهر وهو الصحیح وعلیه الفتوی للضرورة.

وفی الدرالمختار ویطهر خف و نحوه کنعل تنجس بذی جرم (هو کل ما یری بعدالجفاف ولو من غیرها کخمر وبول اصابه تراب به یفتی بذلک یزول به اثرها.

د پچو د پاسه په څادر لمونځ

پوښتنه: ټوله شپه مو پیاده مزل کړی و؛ صبح صادق راختلی و، مور خپل مرکز ته نېږدې شوي وو، خو پاکې اوبه مو ولیدې نو اودسونه مو وکړل خپل څادرونه مو وغوړول، تیارې کې لمونځ پیل کړ، خو چې ترې فارغېدو؛ نو لږه رڼا لګېدلې وه، چې څادرونه مو راغونډ کړل لاندې ترې نښې ډېرې پچې پرتې وې؛ مور دا لمونځ راګرځولو، خو د دښمن له لورې خطر و، نو له دې ځې مو پښې سپکې کړې. ددې لمونځ قضاء مو تر اوسه نده راوړې. نو پوښتنه داده چې آیا دا لمونځ صحیح دی که راګرځول غواړي؟

الجواب باسم ملهم الصواب

چې ستاسو څادرونه د دومره ډېلې تیکې وو چې ترې نجاست لاندې نه ښکاربدلو او نه هم د سجدې حالت کې د پچو په بوی پوه شوي یئ؛ نو لمونځ مو صحیح دی راګرځول یې نشته.

و کذا الثوب اذا فرش علی النجاسة الیابسة فان کان رقیقا یشف ما تحته او توجد منه رائحة النجاسة لاتجوز الصلاة علیه و ان کان غلیظا بحیث لا یکون کذلک جازت.(ردالمحتار ج۱ ص ۵۱۶)

مفتی حسن زوی

سید سعید

جنګي جنایتونه (نومبر)

د ۲۰۲۰ز، کال د نومبر د میاشتې په لومړۍ نېټه د بدخشان ولایت مرکز اړوند ۹مه ناحیه کې د حکومت په یو هوایي برید کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د نومبر په لومړۍ نېټه د فراه ولایت د مرکز اړوند غلامان سیمه کې د صفریک قطعي عسکرو د یو ملکي وګړي پر کور چاپه وهلې، د کور څښتن یې شهید کړی او د نومورې مېرمن یې ژوبله کړې ده.

د نومبر په لومړۍ نېټه د بدخشان ولایت مرکز مربوط په دوابه کلي کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د نومبر په لومړۍ نېټه د خوست ولایت د صبریو ولسوالۍ په ګل نام او اوښکې ډنډ کلیو کې د کمپاین عسکرو څلور تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

د نومبر په ۲مه د بدخشان ولایت د یفتل پاین ولسوالۍ په ګزانګ کلي کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی (عبدالحکیم) شهید کړی دی.

د نومبر په ۲مه د غزني ولایت د خواجه عمري ولسوالۍ په برات خیلو کلي کې حکومتي الوتکو یو مسجد بمبار کړی، چې یو لمونځ کونکی پکې شهید شوی او بل تن ژوبل شوی دی.

د نومبرپه ۳مه د غزني ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په قل کرک کلي کې حکومتي ځواکونو پر یو مسجد بمبار کړی، په دغه بمبار کې مسجد شهید شوی، خو خلکو ته پکې ځاني زیان نه دی رسېدلی.

د نومبر په ۳مه د دایکندي ولایت د ګېزاب ولسوالۍ په دیغیرو سیمه کې داخلي عسکرو د ماشومانو د لوبو پر میدان هاوانونه فایر کړي، چې

له امله يې شپږ تنه ماشومان شهيدان او ټپيان شوي دي.

د نومبر په ۳مه د ګوڼې ولايت د نرنګ ولسوالۍ د بادېل درې په صوفه غونډۍ سيمه کې حکومتي عسکرو د ولسي خلکو پر کورونو چاپه وهلې، دوه تنه ملکي وګړي يې شهيدان کړي او د ولسي وګړو کورونو ته زيان اړولی دی.

د نومبر په ۳مه د کندز ولايت د خان اباد ولسوالۍ په نو اباد سيمه کې د حکومتي خواکونو د هاوان په ډزو کې درې ميرمنې او دوه ماشومان شهيدان شوي دي.

د نومبر په ۴مه د بلخ ولايت د زارع ولسوالۍ په عرب قشلاق سيمه کې داخلي عسکرو د هستوګنې پر سيمو د توپچي فايرونه کړي، چې له امله يې درې تنه ژوبل شوي دي.

د نومبر په ۴مه د کندز ولايت د خان اباد ولسوالۍ په نو اباد سيمه کې حکومتي الوتکو د ملکي خلکو پر هغې ګڼې ګوڼې بمبار کړی، چې د طالبانو له لوري د نيول شوي بېس ليدلو ته راټول شوي وو، د رسنيزو رپوټونو په اساس په دغه بمبار کې دياړلس تنه ولسي هيوادوال شهيدان شوي او ۱۷ تنه ټپيان شوي دي.

د نومبر په ۴مه د کندز ولايت د خان اباد ولسوالۍ په نو اباد سيمه کې د حکومت په هوايي برید کې يو ماشوم شهيد او درې تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

د نومبر په ۴مه د سرپل ولايت د مرکز اړوند د کورک عربيه په سيمه کې د حکومتي عسکرو د توپچي په ډزو کې دوې ميرمنې او يو ماشوم ټپيان شوي او د خلکو کورونو ته زيان رسېدلی دی.

د نومبر په ۴مه د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ د سلطان باغ پر کلي داخلي عسکرو هاوانونه ويشتلي، چې له امله يې يو سپينږيری او يو ماشوم شهيدان شوي دي.

د نومبر په ۵مه د هلمند ولايت د ناوې ولسوالۍ د عينک د لوی کلي په سيمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په برید کې يوه ميرمن شهيده شوې او يوه ماشومه ژوبله شوې ده.

د نومبر په ۶مه د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په سترې ترمې او کمې ترمې سيمو کې حکومتي عسکرو د خلکو پر کورونو د توپچي ډزې کړي چې له امله يې د يوه کور شپږ تنه غړي ژوبل شوي او يوه ماشومه شهيده شوې ده.

د نومبر په ۷مه د بلخ ولايت د زارع ولسوالۍ مرکز ته خبرمه د حکومتي الوتکو په بمبا رکې يو ملا امام شهيد شوی او شپږ تنه کليوال ټپيان شوي دي.

د نومبر په ۷مه د جلال باد ښار په خلورمه ناحيه کې حکومتي عسکرو د اسد په نوم يو متعلم د خپلې کورنۍ د غړو په مخکې شهيد کړی دی.

د نومبر په ۸مه د پکتيکا ولايت د خيرکوټ ولسوالۍ په يکي خيل کلي کې داخلي عسکرو د

حضرت عمـــر په نوم يو ملـــکي وګړی شهيد کړی دی.

د نـومبر په ۸مـه د هـرات ولايـت د غوريـان ولسـوالي بـازار کـې حکومـت پلـوه ملېشـو (سنګوريانو) يو ملکي وګړی شهيد او يـو بل تـن ژوبل کړی دی.

د نـومبر پـه ۹مـه د بلـخ ولايـت د کشـندې ولسوالي په مربوطـاتو کـې اربکيـانو پـر يـو کـور د برید په مهـال يـوه ميرمـــن او يـو ماشـوم شـهيدان کړي دي.

د نـومبر پـه ۹مـه د کنـدهار ولايـت د ژړی ولسـوالي د سنګحصـار د ديـوارو پـه کـلي کـې حکومتي الوتکو پر يو کور بمبار کړی، په يادبمبار کې دوې ښځې شهيداني شوې دي.

د نومبر په ۱۰مه د پکتيکا ولايت د خوشـامند ولسوالي د مـامور خيلـو پـه کـلي کـې د حکـومتي عسـکرو د تـوپچي پـه ډوز کـې خلـور تنـه ولسي- هيوادوال ټپيان شوي دي.

د نومبر پـه ۱۰مـه د پـروان ولايـت د شـينوارو ولسوالي د رازګرد په سيمه بانـدې داخـلي عسـکرو هاوانونه ويشتلي، چې له امله يـې د مولـوي برهـان الدين په نوم يو ۸۰ کلن عالم شهيد شوی دی.

د نومبر په ۱۰ مه د جوزجـان ولايـت د فيض اباد په حيدر اباد کلي کې د حکومت په يـو هـوايي برید کې درې تنه ملکي وګړي(خـدای قـل، زوی يې او يو بل کليوال) شهيدان شوي دي.

د نـومبر پـه ۱۱مـه د غـزني ولايـت د شـلګر ولسوالي په نياز الله کـلي کـې د داخـلي عسـکرو د هاوان په ډزو کې درې ماشومان ژوبل شوي دي.

د نـومبر پـه ۱۱مـه حکـومتي الوتکـو د کنـدز ولايت د خان اباد ولسـوالي د اخترتپـې ترځنـګ د ولسي وګړو کورونه بمبار کړي، په يادشـوي بمبار کې لس تنه ولسي هيوادوال شهيدان او ټپيان شـوي دي.

د نومبر پـه ۱۲مـه د پـروان ولايـت د شـينوارو ولسوالي په رازګرد سيمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کـې يـو ملکـي وګړی شـهيد شـوی، دوې ميرمنې او يو سپين ږيری ژوبل شوي دي.

د نومبر په ۱۲مـه د فاريـاب ولايـت د قيصـار ولسوالي په سرآسياب سيمه کې د داخـلي عسـکرو د هـاوان پـه بريـدونو کـې دوې ښـځې او خلـور ماشومان ټپيان شوي دي.

د نـومبر پـه ۱۲مـه د غـزني ولايـت د شـلګر ولسوالي د لعـلي والـو پـر کـلي حکـومتي عسـکرو هاوانونه ويشتلي، يوه مرمی پر يو کور لګېدلې چې له امله يـې يـوه ميـرمن شـهيده شـوې او بلـه ژوبلـه شوې ده.

د نومبر په ۱۴مـه د خوسـت ولايـت مرکـز پـه منګسو کـلي کـې د کمپـاين عسـکرو د يـو ملکـي وګړي پر کور چاپـه وهلـې، د کـور خښـتن يـې لـه کوره ايستلی او بيا يې شهيد کړی دی.

د نومبر پـه ۱۴مـه د بدخشان ولايـت د ارګـو ولسـوالي پـه غـوزک دره کـې د داخـلي عسـکر د

توپچي په ډزو کې د مېرمنو په شمول څلور تنه شهیدان او ژوبل شوي دي.

د نومبر په ۱۷مه داخلي عسکرو د کندز ولایت په گلتپه سیمه کې په ملکي کورونو د هاوان توغندي پیر کړي، چې له امله یې په یوه کور کې د ښځو او ماشومانو په ګډون پنځه تنه شهیدان او شپږ نفره ټپیان شوي او په بل کور یوه مېرمن شهیده شوې ده.

د نومبر په ۱۷مه د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ دده شیخ په سیمه کې د حکومتي الوتکو په بمبار کې یو ماشوم او یو سړی شهیدان شوي دي.

د نومبر په ۱۷مه د هلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ د ګوهرګین په کلي کې د داخلي عسکرو د هاوان په بریدونو کې یوه میرمن او درې ماشومانې شهیدانې شوې دي.

د نومبر په ۱۷مه د خوست ولایت مرکز بازار کې د کمپاین عسکرو د غابنونو په یو کلینک باندې چاپه وهلې، د صدیق حسین په نوم یو ډاکټر یې له همدغه کلینیک څخه وړی او په صحرا باغ کې شهید کړی دی.

د نومبر په ۱۸مه د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ د چهارسوق د کلي ښوونځي ته نږدې داخلي عسکرو یو ماشوم شهید کړی دی.

د نومبر په ۱۸مه د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ په بازار کې اربکیانو د عبدالحمید په نوم یو ملکي وګړی شهید کړی او دوه تنه یې ژوبل کړي دي.

د نومبر په ۱۹مه د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ په چارباغ سیمه کې حکومتي عسکرو د یو سیمه ییز ډاکټر پر کور لومړی چاپه وهلې او بیا یې پر همدغه کور بمبار کړی، په بمبار کې د کور څښتن ډاکټر خاکسار شهید شوی او وراره یې عسکرو له ځان سره د بندي په توګه وړی دی.

د نومبر په ۲۰مه د دایکندي ولایت د ګیزاب ولسوالۍ په مرکزیز سیمه کې اشغالګرو او حکومتي څواکونو د هستوګنې پر سیمه بمبار کړی، په دغه بمبار کې د ښځو او ماشومانو په ګډون پنځه تنه شهیدان شوي او دوه کوچنیان ټپیان شوي دي.

د نومبر په ۲۱مه د خوست ولایت مرکز اړوند د خاني خوړ سیمه کې د کمپاین عسکرو د چاپې پر مهال دوه تنه ملکي وګړي(نور رحمن او خیرالله) له خپلو کورونو څخه ایستلي او بیا یې شهیدان کړي دي.

د نومبر په ۲۱مه د کندهار ولایت د تخته پل ولسوالۍ د ماکیانو د کلي یو مدرس عالم مولوي خدای نظر چې د کلي کوچنیانو ته یې درس وایه، داخلي عسکرو نومورې دیني عالم لومړی له مدرسې څخه ایستلی، بیا یې د کلي منځ کې شهید کړی او وروسته یې په شوبله پسې ټرلی او تر خپلې پوستې پورې یې پر ځمکه کش کړی دی.

د نومبر په ۲۲مه د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالي په ارضلیک سیمه کې د حکومتي عسکرو د توپچي په ډزو کې دوه تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

د نومبر په ۲۳مه د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالي د سرخسنگ کلي کې د داخلي عسکرو په ډزو کې یو سپین ږیری (حاجي اغا محمد کاکا) شهید شوی دی.

د نومبر په ۲۴مه د سرپل ولایت د گوسفندي ولسوالي د الغن په سیمه کې اربکیانو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د نومبر په ۲۴مه د فاریاب ولایت د المار ولسوالي کې حکومتي عسکرو CHC پلس کلینیک بندی د هاوان برید کړی چې له امله یې همدغه کینیک ته زیان اوښتی دی.

د نومبر په ۲۴مه د بغلان ولایت د نهرین ولسوالي د حاجي امان الله په کلي کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د نومبر په ۲۶مه د دایکندي ولایت د گیزاب ولسوالي په نېک اباد سیمه کې حکومتي الوتکو پر سیمه ییز بازار بمبار کړی، په دغه بمبار کې څلور دوکانونه او یو کلینیک ویجاړ شوي دي.

د نومبر په ۲۶مه د بادغیس ولایت د آبکمري ولسوالي په کوکچائل سیمه کې حکومتي الوتکو د یو ملکي وګړي (امین الله) پر کور بمبار کړی، د لومړنیو رپوټونو په اساس په دغه بمبار کې د امین الله په ګډون د نوموړي د کورنۍ دولس تنه غړي شهیدان شوي دي.

د نومبر په ۲۶مه د جوزجان ولایت د منگجیک ولسوالي له ودانۍ څخه توغول شوی هاوان د هارون دوم په کلي کې لګېدلی، چې له امله یې درې تنه ژوبل شوي او د خلکو مواشي او مالونه له منځه تللي دي.

د نومبر په ۲۶مه د ارزگان ولایت د دهراود ولسوالي د دیوانه ورخ پر بازار او شاوخوا کلیو باندې حکومتي عسکرو هاوانونه ویشتلي، چې له امله یې پنځه لس تنه ملکي وګړي (د ښځو او ماشومانو په ګډون) شهیدان او ټپیان شوي دي.

د نومبر په ۲۶مه د لغمان ولایت د دولت شاه ولسوالي په زرکمر سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو کلیوال شهید، دوه ماشومان ژوبل او خلکو ته مالي زیانونه اوښتي دي.

د نومبر په ۲۷مه د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالي بازار ته څېرمه د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د نومبر په ۲۷مه د بغلان و لایت د مرکزي بغلان ولسوالي په غلام بای کلي کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې درې تنه کلیوال شهیدان او زخمیان شوي او خلکو ته مالي تاوان رسېدلی دی.

د نومبر په ۲۷مه د هرات ولایت د کهسان ولسوالي په مربوطاتو کې د حکومتي ځواکونو په

بمبار کې اته تنه ملکي وګړي ژوبل شوي او خلکو ته مالي زیان اووښتی دی.

د نومبر په ۳۰مه د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د کاریزک په سیمه کې حکومتي عسکرو د ولسي وګړو د اوبو له برمو او باوړیو څخه ۶۰ شمسیانې او له کورونو څخه قیمتي سامانونه او اسباب وړي او په اخر کې یې ۱۵ کورونه ویجاړ کړي دي.

د نومبر په ۳۰مه د لغمان مرکز مهترلام په بصرام او بدیع اباد سیمو کې د صفر دوه قطعې عسکرو د هستوګنې پر سیمو هاوانونه ویشتلي چې له امله یې څلور تنه شهیدان شوي او یو میرمن او یو سړی ژوبل شوي دي.

جنګي جنایتونه (دسمبر)

د ۲۰۲۰ ز کال د دسمبر د میاشتې په لومړۍ نیټه د غزني ولایت د خواجه عمري ولسوالۍ د حاجي کلي په مسجد او کلیوالي مدرسه باندې حکومتي الوتکو بمبار کړی چې له امله یې دواړه زیانمن شوي دي.

د دسمبر په لومړۍ نیټه د تخار ولایت په اشکمش ولسوالۍ کې حکومتي عسکرو د کته قروق له بیس څخه د هستوګنې پر سیمو هاوانونه فایر کړي چې له امله یې یو ماشوم شهید شوی او دوه تنه ټپیان شوي دي.

د دسمبر په لومړۍ نیټه حکومتي ځواکونو د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ د دیوانه ورخ او اخندزاده خیلو پر سیمو هاوانونه ورولي، چې له کبله یې درې ښځې شهیدانې شوي او د ماشومانو په شمول شپږ تنه ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

د دسمبر په لومړۍ نیټه د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهر سراج په دیکه لنګ سیمه کې داخلي عسکرو یوه ماشومه شهیده کړې ده.

د دسمبر په ۳مه د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهر سراج په دوبندي سیمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې یوه میرمن شهیده شوې او درې تنه ژوبل شوي دي.

د دسمبر په ۳مه د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ په سرآسیاب او ینګي سیمو کې حکومتي عسکرو د چاپې په مهال د ملکي خلکو د کورونو دروازې ماتې کړې، یو ملکي وګړی یې شهید کړی او یو بل تن یې ژوبل کړی دی.

د دسمبر په ۵مه د کاپیسا ولایت د اله سای ولسوالۍ په فقیر خیلو کلي کې اربکیانو حاجي سید خان یو قومي مشر شهید کړی دی.

د دسمبر په ۶مه د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ په استامینګ سیمه کې د حکومتي ځواکونو د توپچي په ډزو کې یوه میرمن او یو سړی شهیدان شوي او خلکو ته مالي تاوان هم رسېدلی دی.

د دسمبر په ٦مه د غزني ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په سيدانو کلي کې حکومتي الوتکو يو مسجد په نښه کړی، په دغه بمبار کې يادشوی مسجد زيانمن شوی، يو ملکي وګړی پکې شهيد شوی او درې کسان ژوبل شوي دي.

د دسمبر په ٦مه د خوست ولايت د عليشيرو ولسوالۍ په خلبسات سيمه کې د کمپاين عسکرو يو ملکي وګړی (خالد) چې تازه له دوبی څخه راغلی و، له موټره کښته کړی او بيا يې شهيد کړی دی.

د دسمبر په ٩مه د ارزګان ولايت د دهراود ولسوالۍ د لونډياني په سيمه کې د حکومتي الوتکو په بمبار کې يو کور تخريب شوی، يو ملکي وګړی پکې شهيد شوی او دوه تنه پکې ژوبل شوي دي.

د دسمبر په ١٠مه د کندهار ولايت د ژړی ولسوالۍ په لاکو خيلو سيمه کې اشغالګرو د ولسي-وګړو پر کورونو بمبار کړی چې له امله يې لس تنه ملکي وګړي شهيدان شوي دي.

د دسمبر په ١٠مه د فارياب ولايت د ګرزيوان ولسوالۍ د نمرهای په سيمه کې د اربکيانو په يې هدفه ډزو کې يو ملکي سړی ژوبل شوی او زوی يې شهيد شوی دی.

د دسمبر په ١٠مه د کندهار ولايت د ارغستان ولسوالۍ د شيغزو په سيمه کې حکومتي عسکرو د ولسي خلکو پرکورونو د چاپې په مهال ګڼ شمېر کسان وهلي او تهديد کړي او دوه تنه ملکي وګړي يې شهيدان کړي دي.

د دسمبر په ١٠مه د هرات ولايت د شيندنډ ولسوالۍ بازار کې اربکيانو يو ملکي وګړی شهيد کړی دی.

د دسمبر په ١١مه د جوزجان ولايت د فيض اباد ولسوالۍ په سه درخت کلي باندې حکومتي عسکرو هاوانونه ورولي، د همدې هاوانونو له امله يو ملکي وګړی شهيد شوی او دوه تنه ټپيان شوي دي.

د دسمبر په ١٢مه د بغلان ولايت د تالې برفک ولسوالۍ په مربوطاتو کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې يو ملکي وګړی شهيد شوی او کور يې زيانمن شوی دی.

د دسمبر په ١٢مه د کندز ولايت د خان اباد ولسوالۍ د زاړه پمپ سيمه کې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې يو ځوان شهيد شوی دی.

د دسمبر په ١٢مه د کندهار ولايت د ارغنداب ولسوالۍ د ناګهان په سبزي کلي باندې حکومتي ځواکونو بمبار کړی، په دغه بمبار کې د ملکي خلکو ګڼ کورونه ويجاړ شوي، د ښځو او ماشومانو په ګډون دیارلس تنه ولسي-وګړي شهيدان شوي او ګڼ نور ټپيان شوي دي.

د دسمبر په ١٣مه د لغمان ولايت د عليشنګ ولسوالۍ په اسلام اباد سيمه کې داخلي عسکرو د خلکو پر کورنو د دې سي توپ فايرونه کړي چې

له امله يې پنځه ماشومانې شهيدانې او ټپيانې شوي دي.

د دسمبر په ۱۳مه د فراه ولايت د جوين ولسوالۍ د مرکزي جامع مسجد خطيب مولوي غلام سخي صاحب حکومتي عسکرو له خپله کوره ايستلی او شهيد کړی يې دی.

د دسمبر په ۱۵مه د هلمند ولايت د گرشک ولسوالۍ د اب بازانو په سيمه کې اربکيانو يو ملکي وګړی (ماهي خرڅونکی) د خپل کور مخ ته شهيد کړی دی.

د دسمبر په ۱۵مه د غزني ولايت د شلگر ولسوالۍ په يرګتو سيمه کې حکومتي الوتکو د مشهور ولی الله (ملاتوخ بابا، رحمه الله) په مقبره بمبار کړې او شپږ تنه ولسي-وګړي يې پکې شهيدان او ټپيان کړي دي.

د دسمبر په ۱۶مه د غزني ولايت د قرباغ ولسوالۍ په مربوطاتو کې حکومتي عسکرو يو خوان شکنجه کړی، بيا يې پر ماين کښېنولی او ماين يې منفجر کړی چې له امله يې نوموړی خوان شهيد شوی دی. تېر کال هم حکومتي عسکرو لوګر کې يو ملکي وګړی چې سعودي کې له اوږدې مسافرۍ وروسته خپل کور ته راغلی و، په ورته توګه شهيد کړ.

د دسمبر په ۱۶مه د غزني ولايت د ده يک ولسوالۍ په تاسين سيمه کې داخلي عسکرو يو ماشوم شهيد کړی دی.

د دسمبر په ۱۶مه د نيمروز ولايت د دلارام ولسوالۍ په مربوطاتو کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې دو تنه ملکي وګړي شهيدان شوي او درې تنه ټپيان شوي دي.

د دسمبر په ۱۷مه د ميدان وردګ ولايت د نرخ ولسوالۍ په غلو غونډۍ سيمه کې داخلي عسکرو د ملکي خلکو د سورلۍ په موټر ډزې کړې چې له امله يې يو ملکي وګړی شهيد او بل تن ژوبل شوی دی.

د دسمبر په ۱۷مه د کندهار ولايت د ارغستان ولسوالۍ د سندرزو په کلي کې د حکومتي الوتکو په بمبار کې اته تنه ولسي-وګړي شهيدان او ټپيان شوي دي.

د دسمبر په ۱۸مه د ارزګان ولايت د خاص ارزګان ولسوالۍ په سيدانو کلي کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې يوه مېرمن شهيده شوې او يو ماشوم ژوبل شوی دی.

د دسمبر په ۱۸مه د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په منګل لګده، کوچيانو کلا او خندلي سيمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو د چاپې په مهال د خلکو د کورونو دروازې په بمونو الوزولي، نغدې پيسې او قيمتي توکي يې لوټلي او دوه تنه ملکي وګړي يې د بنديانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د دسمبر په ۲۱مه د حکومتي ځواکونو د لوګر ولايت د پل علم په دوشنبه سيمه کې پر يو

جومات بمبار کړی، چې ورسره یو کور هم زیانمن شوی، خو چاته پکې د سر زیان نه دی رسیدلی.

د دسمبر په ۲۲مه د هرات ولایت د شیندنډ ولسوالی د شوز په سیمه کې د یرغلګرو په ډرون حمله کې دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د دسمبر په ۲۳مه د هرات ولایت د شیندنډ ولسوالی په شوز سیمه کې داخلي عسکرو د ولسي-وګړو پر کورونو د چاپې په مهال یو ملکي وګړی شهید کړی او اووه تنه یې بندیان کړي دي.

د دسمبر په ۲۶مه د کابل ولایت د قرباغ ولسوالی په حاجیانو کلي کې داخلي کمانډویانو د چاپې په مهال یو ملکي وګړی شهید کړی او یو بل تن یې بندي کړی دی.

د دسمبر په ۲۶مه د کونړ ولایت د منوړي ولسوالی په ورسک کلي کې داخلي عسکرو یو ماشوم شهید کړی دی.

د دسمبر په ۲۷مه د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالی په طاؤس خیلو کلي کې داخلي عسکرو یو ځوان چې پر خپله ځمکه یې او به لګولې، شهید کړی دی.

د دسمبر په ۲۷مه د ننګرهار ولایت په روداتو ولسوالی کې د صفر دو عسکرو د چاپې په مهال دوه تنه عام وګړي شهیدان کړي دي.

د دسمبر په ۳۰مه د دایکنډي ولایت د ګیزاب ولسوالی په ملک حضرت او سیدانو درې سیمو کې د حکومتي ځواکونو د توپچي بریدنو او بمبار له امله دوه تنه سیمه ییز ډاکټران، یوه میرمن او درې تنه نور ولسي-وګړي شهیدان شوي او ځینې کورونه ویجاړ او زیانمن شوي دي.

د دسمبر په ۳۱مه د خوست ولایت مرکز متون سیمه کې د کمپاین عسکرو د محمد عظیم په نوم یو ملکي وګړی چې موټر یې چلوه، په خپل کور کې شهید کړی دی. همداراز دې ځواکونو د خوست ولایت د صبریو ولسوالی په خاني خوړ سیمه کې یو زده کونکی (نصرت الله) له خپله کوره ایستلی او شهید کړی دی.

د دسمبر په ۳۱مه د پکتیا ولایت د ګردې خیړی ولسوالی په کرزي کلي کې ضربتي (د کمپاین) ځواکونو د عبدالمحمد په نوم یو ملکي وګړی شهید کړی دی. تر دې یوه ورځ وړاندې هم د کمپاین عسکرو په دغه کلي کې یو ځوان چې د برمې کار یې کاوه، شهید کړی دی.

مأخذونه: [بي بي سي راډیو، ازادي = ، افغان اسلامي اژانس، پژواک = ، ټول افغان ویبپانه ، لراوبر = ، نن ټکی اسیا =]

د مورچل وږمي

د مینې بنګ

صابرجان

نظر کې مې د غره بوټي او پاڼې چې لونګ دي
په لپو لپو څکلي مې د یار د مینې بنګ دي

ښکلا او په خوشبو کې د لذت حدود تمام دی
د عشق په دنیاګۍ کې د خیالو برجونه دنګ دي

په لاره د خبیب تللی تر داره یم په عشق کې
له اور سره مستي مې عادتونه د پتنګ دي

وصاله !یو ځل راشه د خمار تنده مې وژني
د زړه د وینو ډنډ کې مې ټوپونه د نهنګ دي

د هجر په لمبو یې ستي شوي ډیر زړګي دي
عشاق یې په فراق کې غورزیدلي له ګړنګ دي

دردونه هم خواږه دي اي رویداره ستا له هجره
په زړه سوي داغونه د "صابر" عاجز ملنګ دي

عمري هوډ

دعوه د مینې چې کوم ورسره دار قبلوم
د وخت منصور یم دار لا څه آن چې انګار قبلوم

که بند په بند مې وتړې خپل د وحشت په زنځیر
غلی به نشم هر پرهر دې د ازار قبلوم

عمري هوډ مې په ناټو ایسارولی نشې
د خپل هیواد دفاع کوم هر یو بمبار قبلوم

لا ناخبره د ملالې له ټپو اغیاره
لا یې غافله د ایوب له هر ګزار قبلوم

د مکناټن نه تپوس وکړه د اکبر له جذبې
د شهادت په خاطر دا اغزنه لار قبلوم

خپله کوه ستا یې زما په واک اختیار څه کار دی
ښکلی قران نافذوم هر یو اخطار قبلوم

وخت به راځي هر یرغلګر او اشغالګر به تښتي
ای زاهدمله کړم شبګیر ښکلی سهار قبلوم

د ارمانونو بیړۍ

نصیب الله عطشان

د زړه په کور کې مې ساتلي ستا یادونه یاره
سهار بیګا مې ژړوي ستا تصویرونه یاره

شوه دې رسانده تر منزل د ارمانونو بیړۍ
لا خو ماشوم وې لا دې ډیر وو ارمانونه یاره

د شهادت په خواږه خوب باندې ویده شهیده
شه دې په برخه سترمقام او جنتونه یاره

د حسن لمر وې تجلي دې پر دنیا خوره وه
درته عاجز وو د دنیا سره سپین ګلونه یاره

چې پرې را ټولې د جنت حورې دا څوک دي خلګو
دا د امت هم د ملت اولس ویاړونه یاره

فراق دي ډیر کړمه خفه ګرانه شهیده آشنا
در پسې ګورم مدام غرونه سنګرونه یاره

ګوره چې هیر درڅخه نه شم په میدان د محشر
عطشان لرم د شفاعت دې امیدونه یاره

ناصح أفغان

پروردګاره!

د عشق په لاره کړه مې سم ستې پروردګاره
پوره مې کړه ارمان د مات د زړګی پروردګاره

چې ماسم په زور زبر دستا دمینې په خوند پوه کړې
نصیب مې کړه د داسې چا یارې پروردګاره

دا ښکلي څنیور د دین او ننګ مدافعین مو
له هر آفت نه ساته دا زلمي پروردګاره

په تورو شپو دستا په لار په ذکر خوله پیره کړې
قبول یې کړه تکلیف دا بې خوبی پروردګاره

ښائسته دی وی زمونږ چم تل په ګلونو طالبانو
هیبت نه یې ریږدې تول اغزې پروردګاره

ناصح افغان دی ربه له هر حکم نه لوګی شه
رضا ته دی سبب شه شاعری پروردګاره

د جهاد لښکرې

محمد قاسم محسن

خدای دې آبادې لري زمور د الجهاد لښکرې
کړې یې په تښته بیا د شر او د فساد لښکرې

هر یرغلګر به ځورند سر ځې له ارمانه سره
تر څو چې دلته وي ژوندی د استشهاد لښکرې

بیا د آمو تر سیده اوږې بخارا به نیسي
مور لا لرو د ستر طارق ابن زیاد لښکرې

دا ولسونه دې سمبال په ایماني زور او ځواک
زمور هره سیمه معسکر دی کړي اعداد لښکرې

قَاسِم مُحسِنه! ستا ټاټوبی به اشغال نه شي
د ستا مسکن کې چې تر څو وي د جهاد لښکرې

زاهد مل:

ماتې کړې مې په نړه ککړی د کبرجنو
تر پښو مې لاندې کړې دي مړی د کبرجنو
وحشت او بربریت یې د زوال یو ستر لامل شو
راغلي چې په زور وهي سلګی د کبرجنو
ناټو یې تارونار سوه د جګړې توان یې بایللی
حیرانه راته پاته سوه نړی د کبرجنو
د کفر او نفاق تخم یې محوه په توحید سو
لمبه سوه لولپه شوله شړی د کبرجنو
نهنګ یم او حُباب یم سمندر په مینځ کې درومم
چپه او ریز مریز به کړم بیړی د کبرجنو
په جنګ چې وي راغلي د عمرو سي توبه ګاره
توبې یې دي اېستلي دي پیړی د کبرجنو
کنګړ چې د پردو خوړي نوش بې نکړي زاهدمله
وهلي مې پر سر چې خوري مړی د کبرجنو

غزني او کندز ولایتونو کې د روانو فتوحاتو په سلسله کې د بریدونو او غنیمتونو څو بېلګې

وضاحت:

دجهادي خبرونو کمښت د دې ګڼې د تأخیر لامل او دا ګڼه مو دوه میاشتنۍ مجله شوه، له دې وروسته به هم د خبرونو حجم ته په کتو دغه ملاحظه په پام کې نیول کیږي.

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal

په ملکي تأسیساتو کې سنګرونه د چا دي.... (۳) مخ